د لوړو زده کړو وزارت

علمي معینیت

د تحصیلي نصاب ریاست

د هېواد د پوهنتونونو د تحصیلي نصاب بیا کتنې او پراختیا ملي پروګرام

# د ټول شموله مضمون اسلامي ثقافت تحصیلي نصاب

# نصاب تحصیلی مضمون همه شمول ثقافت اسلامی

# Curriculum of Islamic Culture

د لیسانس دوره | دوره لیسانس

سال ۱۴۴۳ هـ . ق

## د لوړو زده کړو د مقام پیغام

الحمدلله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه ومن والاه، وبعد:

د یو هېواد په سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر کې وده او پرمختګ یوازې د پوهې په ګاڼه ښایسته کړل شوو او روزل شوو متخصصو کادرونو له لارې شوني دي، له همدې امله زموږ ګران ټاټوبی افغانستان به هم هغه مهال له هر اړخیز پرمختګ او ودې څخه برخمن کیږي چې د پوهې اړوند هره څانګه کې د بسیاینې ترڅنګ خپل دین، ولس او هېواد ته ژمن متخصص کادرونه وړاندې کړي؛ نو د لوړو زده کړو وزارت اړوند علمي او تحصیلي بنسټونه د داسې علمي او متخصصو کادرونو د روزلو او تربیې مسؤولیت او دنده پر غاړه لري.

د لوړو زده کړو وزارت له اشغال او درې څلویښت کلنې تحمیلي جګړې څخه له راوتلو سمدلاسه وروسته د اقتصادي او نورو ګڼ شمېر ستونزو سره سره اغېزناک او ګټور ګامونه پورته کړل او د خپلو نه ستړي کېدونکو هڅو پایله کې یې د ټولو واجد شرایطو افغانانو لپاره د تحصیل او زده کړې زمینه برابره کړل.

د لوړو زده کړو وزارت رهبري، منسوبین او علمي کادرونه د مسؤولیت او خپل دین، هېواد او ولس ته د ژمنتیا له مخې باور لري چې په ډېره لنډه او کمه موده کې یې د ټولو ستونزو سره سره په خپل اړوند برخه کې لومړیتوبونو ته په کتو سره اړین او مهم ګامونه پورته کړل، خو بیا هم پر همدومره څه بسنه نه کوي او د ځوربدلي او کړېدلي ولس او هېواد لپاره یې کافي نه ګڼي؛ د اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي او علمي برخو ټولو شته ستونزو ته په کتو سره باور لري چې د خپل مجاهد او متدین ولس تحصیلي او علمي اړتیاوو او هیلو په برخه کې به لا زیات او ګړندي ګامونه واخلي.

افغانان د معیاري لوړو زده کړو وړتیا او اړتیا لري، چې د نړۍ له حالاتو سره سم نه یوازې دا چې په ټولنه کې اهل او وړ ثابت شي او شته ستونزو ته ځواب ویونکې وي، بلکې خپل دین، ولس او هېواد ته هم ژمن او په هره لویه او کوچنۍ ستونزه کې د هغوی ترڅنګ ولاړ علمي او تخصصي کادرونه ورته وړاندې کړای شي، په دغه برخه کې د اړینو معیارونو په پام کې نیولو سره د داسې باکیفیته معیاري تحصیلي نصاب چمتو کول چې له یو لوري نړیوال وضعیت او شرایطو او اوسني حالاتو سره سمون ولري او له بل اړخه د دغه نصاب څخه فارغ کسان خپلو دیني او ملي ارزښتونو ته ژمن وي؛ نو له همدې کبله نوموړی وزارت د داسې تحصیلي نصاب چمتو کول له خپلو لومړیتوبونو، مهمو دندو او مسؤولیتونو څخه ګڼي او د لوړو زده وزارت په ملي سټراټېجیک پلان کې د داسې معیاري تحصیلي نصاب چمتو کول له مهمو موخو څخه دی چې د همدې هدف د ترلاسه کولو په موخه د لوړو زده کړو وزارت په لارښوونه او سرپرستۍ د مسلکي کمیټې، د تحصیلي نصاب ملي کمیسیون او د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د استاذانو په همکارۍ د اسلامي ثقافت د تحصیلي نصاب بیا کتنه او اصلاح ترسره شوه.

د خوښۍ ځای دی چې اوس د اسلامي ثقافت نصاب له بیا کتنې او یو شمېر اصلاحاتو وروسته د چمتو کېدو په حالت کې دی او ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو او مؤسسو ته وړاندې کیږي، هیله لرم چې له پخواني نصاب څخه د ګڼ شمېر مخکښېو نیمګړتیاوو لرې کولو او سمونو وروسته د نوي نصاب په پلي کولو سره د ټولنې له غوښتنو سره سم اړتیاوو ته بشپړ ځواب ویل شوی وي.

په پای کې له ټولو هغو علماء کرامو او استاذانو څخه په ډېر درنښت مننه کوم چې په دغه برخه کې یې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کړې دي، تر څو یو داسې ملي او معیاري نصاب چې له دیني او ملي ارزښتونو سره سمون ولري چمتو کړي او دا یې خپله دیني او ملي وجیبه ګڼلې ده، الله تعالی دې د هغوی ټولې هڅې او کوښښونه په خپل دربار کې قبول کړي.

**الحاج مولوي عبدالباقي حقاني**
**د لوړو زده کړو سرپرست وزیر**

# فهرست

د اسلام د اعتقادي نظام مفردات او اونيز پلان .......... 4
د  تلاوت او تجويد مفردات او اونيز پلان .......... 9
د اسلام د عبادتي نظام مفردات او اونيز پلان .......... 13
د سيرت مفردات او اونيز پلان .......... 18
د اسلام د اخلاقي نظام مفردات او اونيز پلان .......... 22
د اسلام د ټولنيز نظام مفردات او اونيز پلان .......... 26
د فکري پوهنې مفردات او اونيز پلان.......... 33
د اديان او مذاهب  مفردات او اونيز پلان.......... 38
د اسلام د سياسي نظام مفردات او اونيز پلان .......... 42
د اسلام د اداري نظام مفردات او اونيز پلان .......... 48
د اسلام د اقتصادي نظام مفردات او اونيز پلان .......... 51
د قرآن او معاصرو علومو مفردات او اونيز پلان .......... 55
د اسلامي تمدن مفردات او اونيز پلان.......... 59

# دلوړو زده کړو وزارت

**پوهنتون (  )**

**پوهنځی (  )**

**ډیپارټمنټ (  )**

| کال (  ) سمستر (  ) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | مضمون | کوډ | د مضمون کټګوري | دکرېډېټونو شمېر | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | | | | د تدریس مسؤول ډیپارټمنټ او پوهنځی | مخ اړ مضمونونه | کتني |
| | | | | | نظري | عملي | ساحوي | ټول | | | |
| 1 | اسلامي ثقافت (د اسلام اعتقادي نظام) | SL.IC.0171 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 2 | اسلامي ثقافت تلاوت او تجوید | SL.IC.0172 | ټول شمول | 1 | | 2 | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 3 | اسلامي ثقافت (د اسلام عبادتي نظام) | SL.IC.0273 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 4 | اسلامي ثقافت (سيرت) | SL.IC.0274 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 5 | اسلامي ثقافت (د اسلام اخلاقي نظام) | SL.IC.0375 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 6 | اسلامي ثقافت (د اسلام ټولنيز نظام) | SL.IC.0376 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 7 | اسلامي ثقافت (فکري پوهنه) | SL.IC.0477 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 8 | اسلامي ثقافت (اديان او مذاهب) | SL.IC.0478 | ټول شمول | 1 | 1 | | | 1 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 9 | اسلامي ثقافت (د اسلام سياسي نظام) | SL.IC.0579 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 10 | اسلامي ثقافت (د اسلام اداري نظام) | SL.IC.0580 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 11 | اسلامي ثقافت (د اسلام اقتصادي نظام) | SL.IC.0681 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 12 | اسلامي ثقافت (قرآن او معاصر علوم) | SL.IC.0782 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| 13 | اسلامي ثقافت (اسلامي تمدن) | SL.IC.0883 | ټول شمول | 2 | 2 | | | 2 | اسلامي ثقافت شرعيات | نه لري | |
| **مجموعه** | | | | 24 | 23 | 2 | 0 | 25 | | | |

وزارت تحصیلات عالی

**پوهنتون (                    )**

**پوهنځی (                    )**

**دیپارتمنت (                    )**

| سال (          ) سمستر(          ) | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود | کتگوری مضمون | تعداد کریدت | ساعات درسی هفته وار | | | | دیپارتمنت و پوهنځی مسؤل تدریس | مضامین پیشنیاز | ملاحظات |
| | | | | | نظری | عملی | ساحوی | مجموع | | | |
| 1 | ثقافت اسلامی (نظام اعتقادی اسلام) | SL.IC.0171 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 2 | ثقافت اسلامی (تلاوت و تجوید) | SL.IC.0172 | همه شمول | 1 | | 2 | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 3 | ثقافت اسلامی (نظام عبادتی اسلام) | SL.IC.0273 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 4 | ثقافت اسلامی (سیرت) | SL.IC.0274 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 5 | ثقافت اسلامی (نظام اخلاقی اسلام) | SL.IC.0375 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 6 | ثقافت اسلامی (نظام اجتماعی اسلام) | SL.IC.0376 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 7 | ثقافت اسلامی (تربیه فکری) | SL.IC.0477 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 8 | ثقافت اسلامی (ادیان و مذاهب ) | SL.IC.0478 | همه شمول | 1 | 1 | | | 1 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 9 | ثقافت اسلامی (نظام سیاسی اسلام) | SL.IC.0579 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 10 | ثقافت اسلامی (نظام اداری اسلام) | SL.IC.0580 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 11 | ثقافت اسلامی (نظام اقتصادی اسلام) | SL.IC.0681 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 12 | ثقافت اسلامی (قرآن و علوم معاصر) | SL.IC.0782 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| 13 | ثقافت اسلامی (تمدن اسلام) | SL.IC.0883 | همه شمول | 2 | 2 | | | 2 | ثقافت اسلامی شرعیات | ندارد | |
| **مجموعه** | | | | 24 | 23 | 2 | 0 | 25 | | | |

**MINISTRY OF HIGHER EDUCATION**

**UNIVERSITY (                    )**

**FACULTY (                    )**

**DEPARTMENT (                    )**

| **Year (     )          Semester (     )** | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| No | Subject | Codes | Subsist Category | Credits | Classes in a week | | | In charge Department and Faculty | Prerequisite Subjects | Remarks |
| | | | | | Theory | Practical | Total | | | |
| 1 | Islamic Culture (Belief System of Islam) | SL.IC.0171 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 2 | Islamic Culture (Recitation and Tajweed) | SL.IC.0172 | Inclusive courses | 1 | | 2 | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 3 | Islamic Culture (Worship System of Islam) | SL.IC.0273 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 4 | Islamic Culture (Biography of Prophet (PBUH ) | SL.IC.0274 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 5 | Islamic Culture (Ethnic System of Islam) | SL.IC.0375 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 6 | Islamic Culture (Social System of Islam) | SL.IC.0376 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 7 | Islamic Culture (Ideological Studies) | SL.IC.0477 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 8 | Islamic Culture (religions and sects) | SL.IC.0478 | Inclusive courses | 1 | 1 | | 1 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 9 | Islamic Culture (Political System of Islam) | SL.IC.0579 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 10 | Islamic Culture (Administrative System of Islam) | SL.IC.0580 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 11 | Islamic Culture (Economic System of Islam) | SL.IC.0681 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 12 | Islamic Culture (Quran and Contemporary Sciences) | SL.IC.0782 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| 13 | Islamic Culture (Islamic Civilization) | SL.IC.0883 | Inclusive courses | 2 | 2 | | 2 | Sharia Islamic Culture | None | |
| **Total** | | | | **14** | **12** | **2** | **14** | | | |

# د اسلام د اعتقادي نظام مفردات او اونيز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | -------- |
| د پوهنځي نوم: | -------- |
| د ډيپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0171 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (د اسلام اعتقادي نظام) |
| د درسي ساعتونو/ کرېډېټونو شمېر: | 2 کرېډېټ |
| د مضمون بڼه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | لومړی |

**د مضمون لنډه پېژندنه**

د اسلامي ثقافت ټول شموله مضمون په لړۍ کې "د اسلام اعتقادي نظام" د اسلامي ثقافت په کريکولم کې لومړی او تر ټولو مهم مضمون دی چې د اسلامي ثقافت مضمون له مفهوم سره له بلدتيا وروسته محصل کولای شي چې د اسلام اعتقادي نظام په علمي او مستدله توګه وپېژني.

د اسلامي ثقافت په تحصيلي نصاب کې اعتقادي نظام د لومړني مضمون په توګه د منطقي او علمي تسلسل له مخې ټاکل شوی دی؛ ځکه چې عقايد او باورونه د تکليفي احکامو لپاره اساس او بنسټ ګڼل کيږي، دا مضمون د اسلامي ثقافت د نورو ټولو مضامينو لپاره بنسټيز او ترټولو مناسب مدخل شمېرل کيږي.

د دې مضمون په مطالعه او لوست محصلان کولای شي چې د سمسټر په پای کې د اسلام اعتقادي نظام مضمون د اساسي موضوعاتو لکه الله تعالی، انسان او نړۍ پېژندنې په اړه په اکاډميکه توګه له دلايلو سره کلي معلومات ترلاسه کړي او په پايله کې يې وکولای شي د يو ځيرک، پوه او سالم انسان په توګه د کايناتو له پالونکي، او له بل انسان سره اړيکه په سمه توګه تنظيم کړي او د کايناتو د پالونکي له نعمتونو څخه په سمه توګه ګټه واخلي.

**زده کړه ييزې موخې:**

- د اسلامي ثقافت له مفاهيمو سره بلدتيا، د پېژندګلوۍ اسباب او ډولونه، د اسلام اعتقادي نظام او په اړه يې راغلي ايتونه، احاديث او اسلامي عقيده پېژندل.
- په سمه توګه د اسلام د اعتقادي نظام پېژندنه او له غير اسلامي نظامونو سره يې پرتله.
- د اسلامي عقيدې او ايمان رول په ډاګه کول او د دنيوي او اخروي ژوند په سالم تنظيم کې ترې د ګټې اخيستنې اړتيا او د ژوند په هره برخه کې د الله تعالی د حاضر او ناظر عقيدې وېښتابه رامنځته کول.
- د اسلامي عقايدو پر فطري والي او اعتدال نقلي او عقلي دلايل وړاندې کول، له نورو اسماني دينونو سره يې پرتله او دا په ډاګه کول چې د اسلام اعتقادي نظام او اسلامي نړۍ ليد پر نورو ټولو نظامونو او نړۍ ليدونو حقانيت او فوقيت لري.
- په اکاډميکه او علمي توګه له اسلامي عقايدو او باورونو څخه د دفاع وړتيا او په خپراوي کې يې هڅې او زيار ايستل.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

**د مضمون اونيز درسي پلان**

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| **لومړۍ** | د ثقافت مفهوم<br>۱ - د ثقافت تعریف، اهمیت او حکم. ۲- د ثقافت موضوع او مطالب.  ۳ - د اسلامي ثقافت سرچینې او اساسات. ۴ - د اسلامي ثقافت اهداف او ځانګړتیاوې. ۵ - د اسلامي ثقافت په وړاندې چیلنجونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **دوهمه** | د اسلام اعتقادي نظام.<br>۱- د اعتقادي نظام تعریف او اهمیت. ۲- د اعتقادي نظام ډولونه: الهي نظامونه، بشري نظامونه.<br>۳- د اسلام د اعتقادي نظام تعریف او اهمیت. ۴- د اسلام د اعتقادي نظام سرچینې: قرآن کریم ،حدیث او اجماع<br>۵- ځانګړتیاوې: توقیفي، غیبي، فطري، شمولیت او اعتدال.<br>٦- د اسلام د اعتقادي نظام غرض او اهداف.<br>۷- د اعتقادي نظام موضوع او برخې: الله تعالی پېژندنه ، انسان پېژندنه، کاینات پېژندنه.<br>۸- د عقیدې د علم حکم، فضیلت، نومونه او اړوند اصطلاحات.<br>د عقایدو امامان، أهل السنة والجماعة پېژندل، اعتقادي اصول او مناهج یې، خصوصیات او عمومي صفات یې. | 2 | 2 | ۰ |
| **درېیمه** | نړۍ لید.<br>۱- د نړۍ لید تعریف، اهمیت او اړتیا. ۲- د نړۍ لید اصول، اساسات او ډولونه:دیني، فلسفي ، علمي ، عقلاني، تجربوي.<br>۳- د اسلامي نړۍ لید تعریف، اهمیت او اړتیا. ۴- د اسلامي نړۍ لید اهداف، ځانګړتیاوې او د غوره والي دلایل یې.  ۵- د اسلامي نړۍ لید اغېزې: فردي اغېزې، ټولنیزې اغېزې. | 2 | 2 | ۰ |
| **ځلورمه** | • د اعتقادي نظام برخې: د الله تعالی پېژندنه، انسان پېژندنه، طبیعت او کاینات پېژندنه<br>د ا لله تعالی پېژندنه: ۱- د اله او الله معنا او توپیر یې. ۲- د الله تعالی د پېژندنې نښې او دلایل<br>د انسان پېژندنه، د انسان خلقت او مقام. ۱- الحادي تصور. ۲- اسلامي تصور.<br>د انسان اړتیاوې: ۱- جسمي. ۲- روحي. ۳-عقلي.<br>د انسان مکلفیتونه: ۱ـ معرفت. ۲ـ عبادت . ۳- د ځمکې  ابادي.<br>۴- د اسلامي شریعت قایمول. | 2 | 2 | ۰ |
| **پنځمه** | طبیعت او کاینات: ۱- د طبیعت حقیقت. ۲- د طبیعت او کایناتو په اړه غیر اسلامي تصور. ۳- د طبیعت او کایناتو په اړه اسلامي تصور ۴ - د کایناتو په اړه نوی ساینس او اسلام. | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۰ | 2 | 2 | د ایمان ارکان: لومړی رکن: پر الله تعالی ایمان.<br>۱- د ایمان تعریف، اهمیت، ارکان او اصول: توحید، نبوت، معاد.<br>✓ د اسلام تعریف، د ایمان او اسلام ترمنځ توپیر.<br>۲ - د ایمان قوت او ضعف. ۳- د ایمان د قوت لاملونه او نښې.<br>۴- د ایمان د کمزورتیا لاملونه او نښې. ۵ - د ایمان غوښتنې.<br>٦ - د مؤمن مسؤولیتونه. ۷- د الله تعالی پر وجود عقلي، نقلي، فطري، نفسي او آفاقي دلایل. | **شپږمه** |
| ۰ | 2 | 2 | ۱- دتوحید لغوي او اصطلاحي معنا. ۲- د توحید ارکان او شروط. ۳- د توحید اهمیت، اهداف او حکم.<br>د توحید ډولونه: ۱- دالوهیت توحید (معنا، دلائل او غوښتنې یې). ۲- د ربوبیت توحید (معنا، دلائل او غوښتنې یې). ۳- د اسماوو او صفاتو توحید (معنا، دلائل او غوښتنې یې). | **اوومه** |
| ۰ | 2 | 2 | د الله تعالی صفات او ډولونه یې: د الله تعالی د اسماوو او صفاتو تعریف، د الله تعالی د اسماوو د اثبات دلایل، د الله تعالی د اسماوو شمېر، د الله تعالی د اسماوو حکم، د صفتي اسماوو او صفاتو ترمنځ توپیر.<br>د الله تعالی صفات او ډولونه: ۱- ذاتي او فعلي صفتونه. ۲- ثبوتي او سلبي صفتونه.<br>1. ذاتي صفتونه، تعریف او تفصیل یې:<br>✓ قدرت، اراده، علم، کلام، حیاة، سمع او بصر.<br>2. فعلي صفتونه، تعریف او تفصیل یې:<br>✓ تخلیق، ترزیق، إحیاء، إعزاز او إذلال.<br>3. ثبوتي صفتونه، تعریف او تفصیل یې:<br>حیات، علم، قدرت .<br>4. سلبي صفتونه، تعریف او تفصیل یې:<br>✓ موت، نوم، جهل، عجز. | **اتمه** |
| ۰ | 2 | 2 | 1. د الله تعالی د اسماوو او صفاتو په اړه د معطله، مشبهه، مجسمه او نورو باطلو فرقو عقاید.<br>2. د الله تعالی د اسماوو او صفاتو په اړه د أهل السنة والجماعة عقاید او تګلاره. | **نهمه** |
| ۰ | 2 | 2 | د ایمان دوهم رکن: پر ملایکو ایمان.<br>۱- د ملایکو حقیقت، صفات او د پیدایښت ماده یې.<br>۲- مقربې پرښتې او د ملایکو دندې.<br>۳- پر ملایکو د ایمان تعریف، تفصیل او مفهوم.<br>۴- د پېریانو او شیطانانو پېژندنه، ډولونه او د وجود دلایل یې. | **لسمه** |
| ۰ | 2 | 2 | د ایمان دریم رکن: پر اسماني کتابونو ایمان.<br>۱ - د اسماني کتابونو پېژندنه. | **یوولسمه** |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | ۲- اسماني کتابونو ته اړتيا.<br>۳- پر اسماني کتابونو د ايمان تعريف، مفهوم او حکم.<br>۴ - د مخکېني اسماني کتابونو د تحريف او منسوخۍ دلايل.<br>۵- د قرآن کريم پېژندنه، ځانګړتياوې، موخې او د عدم تحريف دلائل يې. | |
| ۰ | 2 | 2 | د ايمان څلورم رکن: پر پيغمبرانو ايمان .<br>۱ - د نبوت او رسالت پېژندنه او د رسول او نبي ترمنځ فرق.<br>۲ - پر پيغمبرانو د ايمان تعريف او مفهوم.<br>۳ - د پيغمبرانو د بعثت اړتيا او موخې.<br>۴ - د پيغمبرانو صفات، عصمت، مسؤوليتونه او معجزې.<br>ارهاص، معجزه، کرامت، استدراج، سحر، کهانت، تنجيم او کهانت<br>۵ - د محمد صلی الله عليه وسلم نبوت، صفات، معجزې او خصوصيات.<br>٦- د ختم نبوت عقيده، د منکرينو او د پيغمبرۍ د دعوا کوونکو حکم.<br>۷- د صحابه وو پېژندنه، مقام او په اړه يې د أهل السنة والجماعة عقيده. | **دولسمه** |
| ۰ | 2 | 2 | د ايمان پنځم رکن: د اخرت پر ورځ ايمان.<br>۱- اخرت د ورځې پېژندنه.<br>۲ -پر اخرت د ايمان تعريف، اهميت او اسلامي تصور.<br>۳ - د قيامت ډولونه (صغری، کبری) او نښانې يې (بعيده، متوسطه او قريبه).<br>۴ - د روح حقيقت، له جسم سره د روح د تعلق ډولونه، د روح قبض، د قبر او برزخ عذاب او نعمت، د تناسخ عقيده او رد يې<br>۵- بعثت، حشر، حساب، حوض، شفاعت، پل صراط، جنت او دوزخ. | **ديارلسمه** |
| ۰ | 2 | 2 | د ايمان شپږم رکن: پر قضا او قدر ايمان<br>۱ - د قضاء او قدر تعريف.<br>۲ - پر قضاء او قدر د ايمان مفهوم.<br>۳ - د تقدير ډولونه.<br>۴ - پر تقدير دايمان ګټې او د انسان د واک کچه او د اختيار ساحه.<br>۵- د تقدير په اړه بېلابېل اديان او فرقې. | **څوارلسمه** |
| ۰ | 2 | 2 | د ايمان نواقض<br>۱- د کفر لغوي او اصطلاحي معنا او ډولونه يې.<br>(انکار، جحود، عناد، نفاق، زندقة او الحاد).<br>۲- شرک لغوي او اصطلاحي معنا او ډولونه يې. | **پنځلسمه** |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | (اکبر او اصغر شرک)<br>۳- د نفاق لغوي او اصطلاحي معنا او ډولونه يې.<br>(اعتقادي او عملي)<br>۴- د ارتداد لغوي او اصطلاحي معنا، حکم او ډولونه يې(اعتقادي، قولي او فعلي).<br>۵- د زنديق لغوي او اصطلاحي معنا او د توبې حکم يې.<br>٦- د تکفير لغوي او اصطلاحي معنا، د کفر او تکفير ترمنځ توپير، د تکفير اصول، شروط، موانع او په تکفير کې احتياط. | |
| شپاړسمه | اهل قبله او احکام يې.<br>۱ - د اديانو، فرقو، مذاهبو، مناهجو او مسلکونو ترمنځ فرق او احکام يې<br>۲- کبائر او اهل کبائر او په اړه يې د أهل السنة والجماعة او نورو فرقو عقيده. | 2 | 2 | ۰ |

| مقرر کتاب او ماخذونه: | |
|---|---|
| مقرر کتاب | د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتيب شي. |
| د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع | 1. شرح كتاب الفقه الأكبر للإمام الملا علي القاري الحنفي.<br>2. العقيدة الطحاوية للإمام أبي جعفر الطحاوي الحنفي.<br>3. شرح العقيدة الطحاوية للإمام عبد الغني الغنيمي الميداني الحنفي.<br>4. شرح عقيدة الإمام الطحاوي لأبي حفص سراج الدين عمر بن اسحاق الغزنوي الهندي.<br>5. شرح العقائد النسفية للإمام سعد الدين التفتازاني.<br>6. النبراس شرح شرح العقائد النسفية، لمحمد عبد العزيز الفرهاري.<br>7. الرسالة الحميدية في حقيقة الديانة الإسلامية و حقيقة الشريعة المحمدية، حسين آفندي الجسر الطرابلسي.<br>8. الحصون الحميدية للمحافظة على العقائد الإسلامية، السيد حسين آفندي الجسر الطرابلسي.<br>9. الانتباهات المفيدة في حل الاشتباهات الجديدة للشيخ محمد أشرف علي التهانوي. |

## د تلاوت او تجوید مفردات او اونیز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | - - - - - - - - |
| د پوهنځي نوم: | - - - - - - - - |
| د ډیپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0172 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (تلاوت او تجوید) |
| د درسي ساعتونو/ کریډیټونو شمېر: | 1 کریډیټ |
| د مضمون بڼه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | لومړی |

**د مضمون لنډه پېژندنه**

تجوید یو له هغو مهمو مضامینو څخه دی چې هیڅ مسلمان یې له زده کړې څخه چاره نه لري؛ ځکه د قرآن کریم سمه زده کړه او په ترتیل سره یې لوستل له تجوید سره پیاوړې اړیکه لري، له تجوید پرته د قرآن کریم سمه زده کړه او هر حرف له خپل مخرج څخه ادا کول ناشوني دي، او د قرآن کریم سم لوستل او هر حرف له خپل مخرج څخه د اداکولو هڅه پر هر مسلمان فرض، د قرآن کریم حق او د لمانځه د صحت لپاره شرط دی، نو له همدې امله اړینه ده چې هر مسلمان او په ځانګړې توګه محصل تجوید زده کړي او په سم ډول د قرآن کریم د لوستلو او صحیح تلفظ کولو توان پیدا کړي.

د دې مضمون په مطالعه او لوست محصلان کولای شي چې د سمسټر په پای کې د تجوید مهم موضوعات لکه د حروفو مخارج، صفات او احکام له عملي اجرا سره زده کړي او په پایله کې وکولای شي چې قرآن کریم په سمه توګه تلاوت او اجر یې ترلاسه کړي.

**زده‌کړه ییزې موخې:**

- ایمان پیاوړی کول او د قرآن کریم پر عظمت باور پیدا کول.
- په ترتیل سره د قرآن کریم تلاوت او هر حرف له خپل مخرج څخه له ټولو لازمي او عارضي صفتونو سره سم د لوستلو توان پیداکول.
- له هغه اصولو او قواعدو سره اشنایي چې په سمه توګه د قرآن کریم لوستلو کې انسان له تېروتنو څخه خوندي کوي.
- په قرآني آدابو او اخلاقو محصل اراسته کول او د قرآن کریم په رڼا کې د هغوی په خویونو کې بدلون راوستل.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، عملي اجرا، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنې ځوابول.

**د مضمون اونيز درسي پلان**

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | د تجويد پېژندنه (لغوي او اصطلاحي تعريف)<br>د تجويد موضوع او غرض<br>د تجويد ډولونه (نظري او عملي)<br>د تجويد حکم (له دلايلو سره)<br>د تجويد ارزښت او اړتيا<br>د قرآن کريم د تلاوت آداب<br>حفظ (الناس، الفلق، الإخلاص)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **دوهمه** | د لحن (تېروتنه) تعريف<br>د لحن ډولونه (لحن جلي او لحن خفي)<br>د لحن جلي صورتونه، لحن خفي او مثالونه يې او د لحن حکم<br>حفظ (المسد، النصر، الکافرون )<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **درېيمه** | د تلاوت پيل او صورتونه يې (جزئيات)<br>د قرائت پيل د سورت له پيله<br>د قرائت پيل د سورت له منځه<br>د قرائت په منځ کې د سورت پيل<br>حفظ (الکوثر، الماعون، قريش)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **څلورمه** | د غاښونو نومونه<br>(ثنايا، رباعي، انياب، ضواحک، طواحن، نواجذ)<br>حفظ (الفيل، الهمزة، العصر)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **پنځمه** | حروف او مخارج يې (جزئيات)<br>د حرف تعريف<br>اساسي مخارج (جوف، حلق، لسان، شفتان، خيشوم)<br>حفظ (التکاثر، القارعة)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **شپږمه** | د حروفو صفات<br>د صفاتو تعريف<br>صفات لازمه<br>(صفات متضاده او غير متضاده)<br>حفظ (العاديات، الزلزلة) | ۲ | ۰ | ۲ |
| **اوومه** | صفات عارضه او احکام يې<br>تفخيم او ترقيق | ۲ | ۰ | ۲ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د (الله) د لفظ احکام<br>د (الف لام) احکام<br>حفظ (البينة)<br>مشق او تمرين | | | |
| **اتمه** | د (راء) احکام (تقسيمات)<br>د راء د تفخيم، ترقيق او جواز الأمرين احکام<br>حفظ (القدر، العلق) | ۲ | ۰ | ۲ |
| **نهمه** | غنه<br>د غنې تعريف او حروف يې<br>د نون ساکن او تنوين احکام<br>(اظهار، ادغام)<br>حفظ (التين)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **لسمه** | د نون ساکن او تنوين احکام<br>(اقلاب، اخفاء)<br>حفظ (الانشراح)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **يوولسمه** | د ميم ساکن احکام<br>(ادغام، اخفاء او اظهار)<br>حفظ (الضحی)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **دوولسمه** | ادغام، د ادغام تعريف، د ادغام ډولونه (متماثلين، متجانسين، متقاربين)، (ادغام تام، او ادغام ناقص)<br>حفظ (الليل)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **ديارلسمه** | د مد تعريف، د مد حروف، د مد اسباب، د مد مقدار، د مد ډولونه (اصلي مد او فرعي مد)<br>حفظ (الشمس)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **څوارلسمه** | د مد اصلي ډولونه (مد طبيعي، مد الصلة الصغری، مد العوض، مد البدل، مد التمکين، مد (حي طهر)<br>د مد فرعي ډولونه<br>هغه مدونه چې سبب يې همزه وي<br>هغه مدونه چې سبب يې سکون وي<br>حفظ (البلد)<br>مشق او تمرين | ۲ | ۰ | ۲ |
| **پنځلسمه** | وقف او احکام يې، د وقف تعريف، په مختلفو اعتبارونو د وقف ډولونه | ۲ | ۰ | ۲ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | حفظ (الفجر۱-۱٦)<br>مشق او تمرین | | | |
| **شپاړسمه** | د وقف علامات<br>سکته او احکام یې<br>د سکتې مواضع (ځایونه)<br>حفظ (الفجر ۱۷-۳۰)<br>مشق او تمرین | ۲ | ۰ | ۲ |

| | |
|---|---|
| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
| **مقرر کتاب** | **د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتیب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. فن التجويد، عزة عبيد دعاس<br>2. جمال القرآن، مولانا اشرف علي تهانوي<br>3. فوائد مكية، مولانا عبدالرحمن مكي<br>4. المقدمة الجزرية للإمام محمد بن محمد الجزري |

## د اسلام د عبادتي نظام مفردات او اونيز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | - - - - - - - - |
| د پوهنځي نوم: | - - - - - - - - |
| د ډيپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0273 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (د اسلام عبادتي نظام) |
| د درسي ساعتونو/ کرېډېټونو شمېر: | 2 کرېډېټ |
| د مضمون بنه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | دوهم |

**د مضمون لنډه پېژندنه:**

د اسلامي ثقافت په نصاب کې "د اسلام عبادتي نظام" دوهم ټول شموله مضمون دی، چې په علمي او مستدله توګه محصلان د ژوند له اصلي موخې (عبادت) سره چې د انساني ژوند ټولو برخو ته شامله ده، آشنا کوي.

په حقيقت کې عبادت د ايمان پايله ده او د يوازېني وړ معبود الله جل جلاله پېژندل د انسان له مادي او معنوي اړتياوو څخه دي؛ نو په لومړي سمسټر کې د " اسلام اعتقادي نظام" په نوم مضمون په همدې موخه تدريسيږي؛ نو همدې مناسبت ته په کتو، ضروري ده چې ورپسې په دوهم سمسټر کې د اسلام عبادتي نظام تر بحث لاندې ونيول شي.

د دې مضمون په مطالعې او لوست محصلان کولای شي چې د سمسټر په پای کې د عباداتو په مفهوم، ډولونو، د هر يو په حکم، شرطونو، حکمتونو او اغېزو بشپړه او هر اړخيزه پوهه ترلاسه کړي او په پايله کې پوه شي چې عبادت د انسان يوه ضروري او فطري اړتيا ده؛ نو څرنګه چې انســان د فزيکي ودې په موخه اوبو او غذا ته اړتيا لري همداراز د روحي او معنوي ودې په موخه عبادت ته هم اړتيا لري او د عبادت پراخ مفهوم ته په کتو، انسان ټولنې ته د وخت د ارزښت پېژندونکي، منظم، ګټور او زيارکښ غړي په توګه وړاندې کوي.

**زده کړه ييزې موخې:**

- د عباداتو د مفاهيمو، ډولونو، شرطونو، احکامو او حکمتونو بشپړه پېژندنه.
- د اسلامي عباداتو او له ځانه د جوړو نورو وضعي عبادتونو ترمنځ توپيرونه پېژندل.
- په علمي او اکاډميکه توګه د خاصو او عامو عبادتونو تفسير، تشريح او د شرعي دلايلو په رڼا کې د عبادتونو د پرېښودلو فردي او ټولنيز زيانونه پېژندل.
- د مالي عبادتونو د ترسره کولو په حکمتونو او اغېزو نقلي او عقلي دلايل وړاندې کول او د اســلامي او بشري ټولنې په اقتصادي او اجتماعي پرمختګ کې يې رول.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

## د مضمون اونيز درسي پلان

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | - د عبادت لغوي او اصطلاحي معنا<br>- د عبادت او طاعت ترمنځ توپير<br>- د عبادت مصادر او اساسات<br>-په اسلام کې د عبادت اهميت او اهداف<br>- د عبادت مادي او معنوي گټې<br>- د اسلامي عبادت ځانگړتياوې<br>- د عبادت ارکان او شرطونه | 2 | 2 | ٠ |
| **دوهمه** | - په اسلام کې د عبادت فلسفه او حکمتونه<br>- د عبادت او ايمان ترمنځ اړيکې<br>- د عبادت او اخلاقو ترمنځ اړيکې<br>- د عبادت او معاملاتو ترمنځ اړيکې<br>- له مکان او زمان سره د عبادت مطابقت | 2 | 2 | ٠ |
| **دريیمه** | - په اسلام کې د عبادت د ساحې پراختيا<br>- د عبادت ډولونه (قلبي، بدني، مالي، مالي او بدني)<br>- د عباداتو مراتب (فرض، واجب، سنت، نفل)<br>د عبادت د احکامو مراتب (فرض، واجب، سنت، نفل، حرام، مکروه تحريمي، تنزيهي، خلاف اولی)<br>- د عبادت د شموليت او هراړخيزتوب اړخونه:<br>الف: فردي عبادتونه<br>ب: ټولنيز عبادتونه | 2 | 2 | ٠ |
| **څلورمه** | د اسلام ارکان او حکمتونه<br>١– د شهادت کلمه، اهميت او حکمتونه يې<br>- د شهادت د کلمې مفهوم<br>-د شهادت د کلمې فضيلت<br>- د شهادت د کلمې مقصد<br>د شهادت د کلمې احکام او مرتب آثار<br>د شهادت د کلمې غوښتنې | 2 | 2 | ٠ |
| **پنځمه** | لمونځ، پېژندنه، فضيلت، مرتبه او حکمتونه يې.<br>-د لمانځه حکم او د فرضيت دلايل يې.<br>پر اخلاقو د لمانځه اغېز. | 2 | 2 | ٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د لمانځه ارکان، شرطونه او آداب.<br>-د لمانځه مکروهات او مفسدات.<br>په جمعه د لمانځه اهمیت او فضیلت.<br>- د لمانځه پرېښودلو حکم. | | | |
| **شپږمه** | د لمانځه ډولونه:<br>پنځه وخته لمونځ او د تکرار حکمتونه يې<br>د جمعې لمونځ، اهمیت، حکم، او ځانګړي شرطونه يې.<br>د عیدینو لمونځ، اهمیت، حکم، شرطونه، ځانګړي احکام او طريقه يې.<br>د جنازې لمونځ، اهمیت، حکم، شرطونه، ځانګړي احکام او طريقه يې.<br>د استسقاء لمونځ، اهمیت، حکم، شرطونه، ځانګړي احکام او طريقه يې.<br>د خوف لمونځ، اهمیت، حکم، شرطونه، ځانګړي احکام او طريقه يې.<br>د خسوف او کسوف لمونځ، اهمیت، حکم، شرطونه، ځانګړي احکام او طريقه يې.<br>نفلي لمنځونه:<br>(صلاة تحية الوضوء، الإشراق، الضحى، الأوابين، التهجد، التسبيح، تحية المسجد، الاستخارة، التوبة، التراويح).<br>د نفل لمونځونو اهمیت او اغېزې. | 2 | 2 | ٠ |
| **اوومه** | - زکات، پېژندنه، فضیلت، مرتبه او حکمتونه يې.<br>-د زکات حکم او د فرضیت دلایل يې.<br>د زکات ارکان، شرطونه او آداب.<br>د زکات نصاب او اړوند مسایل يې.<br>- د زکات ډولونه:<br>(زكاة الأموال، زكاة الفطر)<br>(۱- نقود (سره زر، سپین زر، اوسنۍ پیسې) ۲- څاروي، ۳- سوداګریز توکي، ۴- د ځمکې حاصلات).<br>د هر مال زکات اړوند ځانګړي احکام. | 2 | 2 | ٠ |
| **اتمه** | - په ټولنه کې د زکات مستحق خلک.<br>- د زکات پرېښودلو حکم.<br>صدقة الفطر: | 2 | 2 | ٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | تعریف، اهمیت، شرطونه او حکمتونه یې.<br>د صدقة الفطر نصاب.<br>د صدقة الفطر اړوند مسایل.<br>په اسلامي نظام کې د زکات او عشورو ټولولو اهمیت، اړتیا او بیت المال ته پاملرنه. | | | |
| **نهمه** | - روژه، پېژندنه، فضیلت، ثوابونه، مرتبه او حکمتونه یې.<br>-د روژې حکم او د فرضیت دلایل یې.<br>د رمضان د میاشتې فضایل.<br>د روژې ارکان، شرطونه او آداب.<br>-د روژې مکروهات او مفسدات | 2 | 2 | ٠ |
| **لسمه** | د حکم له پلوه د روژې ډولونه:<br>(فرض، واجب، سنت، مستحب، مکروه او ناروا روژه).<br>نفلي روژې.<br>د روژې د نه نیولو عذرونه او احکام یې.<br>د روژې د خوړلو عذرونه او احکام یې.<br>له عذر پرته د روژې خوړونکي حکم.<br>(په پټه اوعام محضر کې).<br>اعتکاف، اهمیت، فضیلت، شرطونه او ډولونه یې.<br>د اعتکاف ځانګړي اعمال او مفسدات یې.<br>د اعتکاف ځانګړي احکام. | 2 | 2 | ٠ |
| **یوولسمه** | - حج، پېژندنه، فضیلت، ثوابونه، مرتبه، شالید او حکمتونه یې.<br>-د حج حکم او د فرضیت دلایل یې.<br>د حج ارکان، شرطونه، واجبات او آداب. | 2 | 2 | ٠ |
| **دوولسمه** | - دحج ډولونه:<br>(قران، تمتع، افراد).<br>- د حج مکروهات او مفسدات.<br>جنایات او ډولونه.<br>د حرم او احرام جنایتونه، جزاوې او ډولونه یې.<br>- دحج پرېښودلو حکم. | 2 | 2 | ٠ |
| **دیارلسمه** | عمره، پېژندنه، فضیلت، ثوابونه او حکمتونه یې.<br>د عمرې حکم، فرائض، واجبات، سنن.<br>د عمرې وخت او طریقه یې. | 2 | 2 | ٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د مدينې منورې زيارت او آداب يې. | | | |
| **څوارلسمه** | قرباني، پېژندنه، فضيلت، ثوابونه او حکمتونه يې.<br>د قربانۍ د وجوب شرطونه، وخت او نصاب.<br>د قرباني څاروي، د قربانۍ آداب او اړوند مسايل يې. | 2 | 2 | ٠ |
| **پنځلسمه** | جهاد، پېژندنه، فضيلت، ثوابونه او حکمتونه يې.<br>د جهاد اهداف، آداب، مشروعيت او د مشروعيت دلايل يې.<br>د جهاد ډولونه:<br>(اقدامي، دفاعي)<br>(جهاد بالنفس، بالمال، باللسان). | 2 | 2 | ٠ |
| **شپاړسمه** | هجرت، پېژندنه، فضيلت، ثوابونه او حکمتونه يې.<br>د هجرت ډولونه:<br>کفري هېوادونو ته د بېلابېلو سفرونو حکم. | 2 | 2 | ٠ |

| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
|---|---|
| مقرر کتاب | **د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتيب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. الأركان الأربعة، ابو الحسن علي الندوي.<br>2. فقه الميسر، شفيق الرحمن الندوي.<br>3. حجة الله البالغة، شاه ولي الله الدهلوي.<br>4. نور الإيضاح، حسن بن عمار بن علي الشرنبلالي الحنفي.<br>5. مختصر القدوري، ابو الحسن أحمد بن محمد القدوري.<br>6. الاختيار لتعليل المختار، عبد الله بن محمود الموصلي. |

## د سیرت مفردات او اونیز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | -------- |
| د پوهنځي نوم: | -------- |
| د ډیپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0274 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (سیرت) |
| د درسي ساعتونو/ کرېډېټونو شمېر: | 2 کرېډېټ |
| د مضمون بڼه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | دوهم |

**د مضمون لنډه پېژندنه**

سیرت پوهنه او اسلامي تاریخ له هغو مهمو ټول شموله مضامینو څخه دي چې په کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له زوکړې مخکې بیا د هغه د زوکړې، ماشومتوب، ځوانی، بعثت او آن تر وفات پورې د ژوند له ټولو اړخونو څخه د معتمدو روایتونو پر بنسټ بحث کیږي؛ ترڅو د نبوي سیرت په رڼا کې د ټولنې اوسنیو ستونزو او اړتیاوو ته په سم ډول ځواب ولټول شي او د یوې مسلمانې ټولنې ټولې ستونزې له نبوي کړنو او لاربښوونو سره سمې حل او فصل شي، نو له همدې امله اړینه ده چې محصلان له خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره مینه پیدا کړي او د هرې ستونزې حل او پرمختګ یوازې د خپل پیغمبر په پیروۍ او لاربښوونه کې ولټوي، او د ژوند په ټولو برخو کې اسلامي تاریخ ته مراجعه وکړي او د راشده خلفاوو تګلارې تعقیب کړي.

د دې مضمون په مطالعه او لوست محصلان کولای شي چې د سمسټر په پای کې د نبوي سیرت له بیلا بیلو برخو، اسلامي تاریخ او راشده خلفاوو له تګلارو څخه درسونه، عبرتونه او ګټې ترلاسه کړي او په رڼا کې یې خپل راتلونکی ترتیب او تنظیم کړي.

**زده‌کړه ییزې موخې:**

- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند له بېلابېلو اړخونو په اړه معلومات ترلاسه کول.
- محصلان د نبوي سیرت او اسلامي تاریخ اړوند بېلابېلو کتابونو سره اشنا کول او له هغو څخه د ګټې اخېستلو کړنلاره ورته په ګوته کول.
- د نبوي سیرت د سمې زده کړې له لارې په محصلانو کې د هغه د پیروۍ ولوله او جذبه پیداکول.
- د اسلامي تاریخ په رڼا کې په خپل فردي او ټولنیز ژوند کې بدلون راوستل.
- د نبوي سیرت او اسلامي تاریخ د واقعاتو په رڼا کې د خپلو شته ستونزو حل لارې موندل.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

## د مضمون اونیز درسي پلان

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | د سیرت او اسلامي تاریخ مفهوم.<br>د نبوي سیرت او تاریخ تعریف او اهمیت.<br>د نبوي سیرت مصادر او ځانګړتیاوې.<br>له بعثته مخکې شته امپراتورۍ او تمدنونه<br>له اسلام څخه مخکې د جزیرة العرب دیني، اخلاقي، علمي، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي حالت.<br>له پیدایښته مخکې پېښې<br>د زمزم څاه کیندل، د فیل پېښه<br>درسونه او عبرتونه | 2 | 2 | ۰ |
| **دوهمه** | له پیدایښته تر بعثته.<br>نسب، پیدایښت او رضاعت.<br>وړوکتوب، پالنه، ځواني، سفرونه او حالات یې<br>له بعثته وړاندې پېښې<br>حرب الفجار<br>حلف الفضول<br>بناء الکعبة<br>درسونه او عبرتونه | 2 | 2 | ۰ |
| **درېیمه** | له بعثته تر هجرته.<br>لومړنۍ وحي او نبوت.<br>مکي دور، پټه او ښکاره بلنه.<br>د حبشې په لور هجرت.<br>پرېکون او د ظلم تړون.<br>د غم کال، اسراء او معراج.<br>د عقبې لومړۍ او دوهم بیعت.<br>درسونه او عبرتونه | 2 | 2 | ۰ |
| **څلورمه** | مدینې منورې ته هجرت.<br>د مسجد تاسیس<br>د مسلمانانو ترمنځ د ورورګلوۍ تړون.<br>له نورو قبیلو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم تړونونه.<br>د اسلامي دولت تاسیس او د تاریخ لومړنۍ اصولي معیاري اساسي قانون.<br>درسونه او عبرتونه | 2 | 2 | ۰ |
| **پنځمه** | غزاګانې:<br>د بدر غزا.<br>د احد غزا. | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د بني نضير غزا.<br>درسونه او عبرتونه. | | | |
| **شپږمه** | غزاګانې:<br>د احزاب غزا.<br>د بني قريظه غزا.<br>د حديبيې سوله.<br>د خيبر غزا.<br>د موته غزا.<br>درسونه او عبرتونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **اوومه** | د مکې فتحه.<br>د حنين غزا.<br>د تبوک غزا.<br>درسونه او عبرتونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **اتمه** | حجة الوداع.<br>د حج خطبه او مراسم.<br>ناروغي.<br>وفات.<br>تجهيز او تکفين.<br>ميراث او ترکه.<br>نبوي خصوصيات او شمايل.<br>درسونه او عبرتونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **نهمه** | امهات المؤمنين او اولاد.<br>تعدد زوجات او د زياتوالي مقصد.<br>له امهات المؤمنين او اولادونو سره نبوي ژوند.<br>درسونه او عبرتونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **لسمه** | د ابوبکر صديق او عمر فاروق رضی الله عنهما خلافت.<br>ابو بکر صديق رضي الله عنه، نوم او نسب، صفات او فضايل، د انتخاب طريقه، کارنامې، شهادت.<br>عمر فاروق رضي الله عنه، نوم او نسب، صفات او فضايل، د انتخاب طريقه، کارنامې، شهادت. | 2 | 2 | ۰ |
| **يوولسمه** | د عثمان، علي او حسن رضی الله عنهم خلافت.<br>عثمان رضي الله عنه، نوم او نسب، صفات او فضايل، د انتخاب طريقه، کارنامې، شهادت.<br>علي رضي الله عنه، نوم او نسب، صفات او فضايل، د انتخاب طريقه، کارنامې، شهادت.<br>حسن رضي الله عنه، نوم او نسب، صفات او فضايل، د انتخاب طريقه، کارنامې، شهادت. | 2 | 2 | ۰ |
| **دوولسمه** | د بني اميه خلافت، بارز شخصيتونه، فتوحات. | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د خلافت پرمهال یې دیني، اخلاقي، علمي او ټولنیز حالت، سیاسي، اقتصادي او عسکري نظام.<br>د امویانو د زوال اسباب. | | | |
| **دیارلسمه** | عباسي خلافت، بارز شخصیتونه، فتوحات.<br>د خلافت پرمهال یې دیني، اخلاقي، علمي او ټولنیز حالت، سیاسي، اقتصادي او عسکري نظام.<br>د عباسیانو د زوال اسباب. | 2 | 2 | ٠ |
| **څوارلمسه** | د فاطمیانو واکمني، بارز شخصیتونه، فتوحات.<br>د واکمنۍ پرمهال یې دیني، اخلاقي، علمي او ټولنیز حالت، سیاسي، اقتصادي او عسکري نظام.<br>د فاطمیانو د زوال اسباب. | 2 | 2 | ٠ |
| **پنځلسمه** | د سلجوقیانو او زنګیانو واکمني او صلیبي جنګونه، بارز شخصیتونه، فتوحات.<br>د واکمنۍ پرمهال یې دیني، اخلاقي، علمي او ټولنیز حالت، سیاسي، اقتصادي او عسکري نظام. | 2 | 2 | ٠ |
| **شپاړسمه** | عثماني خلافت، بارز شخصیتونه، فتوحات.<br>د واکمنۍ پرمهال یې دیني، اخلاقي، علمي او ټولنیز حالت، سیاسي، اقتصادي او عسکري نظام.<br>د عثماني خلافت د زوال اسباب او علتونه.<br>د عثماني خلافت له ړنګېدلو وروسته د مسلمانانو حالت. | 2 | 2 | ٠ |

| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
|---|---|
| مقرر کتاب | **د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتیب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. سیرة ابن هشام، لابن هشام.<br>2. السیرة النبویة، للشیخ ابو الحسن الندوي.<br>3. السیرة النبویة، دروس وعبر، شیخ مصطفی السباعي.<br>4. السیرة النبویة، عرض وقائع وتحلیل أحداث، شیخ علي محمد الصلابي.<br>5. فقه السیرة، شیخ رمضان البوطي.<br>6. تاریخ الخلفاء للإمام السیوطي.<br>7. التاریخ الإسلامي لإبراهیم الشریقي.<br>8. کتب التاریخ الإسلامي، للشیخ علی محمد الصلابي. |

## د اسلام د اخلاقي نظام مفردات او اونيز پلان

| | |
|---|---|
| **د پوهنتون نوم:** | -------- |
| **د پوهنځي نوم:** | -------- |
| **د ډيپارټمنټ نوم:** | **اسلامي ثقافت** |
| **د مضمون کوډ:** | **SL.IC.0375** |
| **د مضمون نوم:** | **اسلامي ثقافت (د اسلام اخلاقي نظام)** |
| **د درسي ساعتونو/ کریډیټونو شمېر:** | **2 کریډیټ** |
| **د مضمون بڼه:** | **ټول شمول** |
| **مخکېنی مضمون:** | **نه لري** |
| **سمسټر:** | **درېيم** |

**د مضمون لنډه پېژندنه:**

د اسلام اخلاقي نظام چې له بده مرغه اوسمهال په اسلامي ټولنو کې پيکه تطبيقي او عملي بڼه لري، د اسلامي ثقافت په نصاب کې د ثقافت له مضامينو څخه درېيم ټول شموله مضمون دی.

دا مضـــمون د نيکو اخلاقو يا د ناخوښ چلن له مخې د انســـان اړيکه له خپل ځان او د ټولنې له نورو وګړو سره تر مطالعې لاندې نيسي، د اسلام اخلاقي نظام د نورو ټولو نظامونو لپاره سرچينه ده، له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم اسلامي اخلاق په مستقيمه توګه له عقيدې او عبادت سره تړلي دي.

د دې مضـمون په لوسـتلو محصـلان د سـمسـټر په پای کې کولای شي چې د اخلاقو په مفهوم، په فرد او ټولنه کې د غوره او بـنـو اخلاقو پر اغېزو، د فرد او ټولنې د ناوړو اخلاقو په بديو او پايلو، د ناوړه اخلاقو په درملنه، بشپړ معلومات ترلاسه کړي او په پايله کې يې د ناوړه اخلاقو له لاملونو او بديو څخه ليرې او په غوره او ستايلو اخلاقو ځان اراسته او د نورو لپاره غوره نمونه شي.

**زده کړه ييزې موخې:**

- د اخلاقو د علم له اسـاسـاتو او مفاهيمو سره بشـپړه بلدتيا، د اسـلام د اخلاقي نظام مفهوم، سرچينې، بنسـټونه، اصـول، ځانګړتياوې او فضيلتونه پېژندل او د عقايدو، عباداتو او معاملاتو سره يې تړاو.
- په سمه توګه د اسلامي اخلاقو پالنه او خپلول يې او له نورو غير اسلامي اخلاقي نظامونو سره يې پرتله.
- د اسلام اخلاقي سرچينو له مخې د مسلمان اخلاقي مسؤوليتونه پېژندل او اسلامي اخلاقو ته د بلنې او خپرواي په لاره کې فعاله ونډه اخيستل.
- د اسلامي اخلاقي ارزښتونو په ګټو او اغېزو نقلي او عقلي دلايل وړاندې کول او د بدو اخلاقو د خپلولو پايلې.
- په ناوړه اخلاقو د اخته کېدو لاملونه او د اسلام اخلاقي نظام په رڼا کې يې د درملنې لارې چارې پېژندل.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

## د مضمون اونيز درسي پلان

| علمي | نظري | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | موضوع | اونۍ |
|---|---|---|---|---|
| ۰ | 2 | 2 | د اخلاقو لغوي معنا<br>د اخلاقو اصطلاحي تعریف<br>د اخلاقي نظام تعریف<br>د اسلام د اخلاقي نظام مفهوم<br>د اسلامي اخلاقي نظام اهمیت او اهداف<br>د اسلامي اخلاقي نظام فلسفه او اساسات<br>د اسلامي اخلاقي نظام مصادر<br>د اسلامي اخلاقي نظام ځانګړتیاوې | **لومړۍ** |
| ۰ | 2 | 2 | عقایدو سره د اسلامي اخلاقي نظام تړاو<br>عباداتو سر د اسلامي اخلاقي نظام تړاو<br>معاملاتو سر د اسلامي اخلاقي نظام تړاو<br>د اخلاقو ډولونه<br>اول تقسیم: طبعي او کسبي اخلاق او بېلګې يې<br>دوهم تقسیم: حسنه او سیئه اخلاق او بېلګې يې<br>درېیم تقسیم: فردي او اجتماعي اخلاق او بېلګې يې | **دوهمه** |
| ۰ | 2 | 2 | د حسنه اخلاقو د خپلولو او له سیئه اخلاقو څخه د ځان ژغورنې لارې چارې<br>د نفس او نفسي غرایزو پېژندنه او کنټرول<br>د نفس د مراتبو پېژندنه<br>الف) أماره نفس ب) لوامه نفس ج) مطمئنه نفس<br>له اسلامي اخلاقو څخه د انحراف لاملونه | **درېیمه** |
| ۰ | 2 | 2 | ۳) د نفس تزکیه<br>الف) مشارطه ب) مراقبه ج) محاسبه د) مواخذه<br>د فاسدو ټولنو پېژندنه او د ځان ژغورنه | **څلورمه** |
| ۰ | 2 | 2 | غوره فردي اخلاق<br>• اخلاص<br>لغوي معنا او اصطلاحي تعریف<br>د اخلاص حکم<br>اخلاص د قرآن کریم او احادیثو په رڼا کې | **پنځمه** |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | اخلاص د آثارو او د علماء کرامو د اقوالو په رڼا کې<br>د اخلاص ګټې او د اخلاص د خپلولو لارې چارې<br>توکل، تقوا، تواضع، صبر، شجاعت | |
| ۰ | 2 | 2 | حیاء او عفت، سخاوت، صداقت او امانت، پر وعده وفا، عفوه او بخښنه، شفقت او ترحم، محبت | **شپږمه** |
| ۰ | 2 | 2 | غوره اجتماعي اخلاق<br>عدالت، تسامح، صله رحمي، ایثار او قرباني، احترام او شفقت، احسان او تعاون، مېلمه پالنه،له والدینو سره ښه چلند، د استاذانو احترام، له ګاونډیانو سره ښه چلند | **اوومه** |
| ۰ | 2 | 2 | **سیئه اخلاق**<br>**فردي ناوړه اخلاق**<br>• ریا او سمعه<br>لغوي معنا او اصطلاحي تعریف<br>د ریا او سمعې حکم<br>ریا او سمعه د قرآن کریم او احادیثو په رڼا کې<br>ریا او سمعه د آثارو او د علماء کرامو د اقوالو په رڼا کې<br>د ریا او سمعې زیانونه او ترې د خلاصون لارې چارې<br>فسق او فجور، عداوت، تکبر، دروغ، غضب، جبن | **اتمه** |
| ۰ | 2 | 2 | بخل، حسد، سوء ظن او بد ګماني، تعصب، اسراف او تبذیر، حب دنیا | **نهمه** |
| ۰ | 2 | 2 | تملق او چاپلوسي، تجسس، عیب جویي، استهزاء او تمسخر، ظلم، خیانت او غدر، غیبت، فحشاء | **لسمه** |
| ۰ | 2 | 2 | • د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د راشده خلفاوو د اخلاقو ځو بیلګې<br>• د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اخلاقو ځو بیلګې<br>• د عمر رضی الله عنه د اخلاقو ځو بیلګې<br>• د عثمان رضی الله عنه د اخلاقو ځو بیلګې<br>• د ابوبکرصدیق د اخلاقو ځو بیلګې<br>• د علي کرم الله وجهه د اخلاقو ځو بیلګې<br>• ارزونه | **یوولسمه** |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **دوولسمه** | د حاکمانو او چارواکو اسلامي اخلاق<br>اخلاص او تقوی<br>وړتیا او ښه حکومتولي<br>امتیازي سیاسي پوهه | 2 | 2 | ٠ |
| **دیارلسمه** | عدالت، احسان، صداقت، پر وعده وفا | 2 | 2 | ٠ |
| **څوارلسمه** | نظم او انتظام، شجاعت، صبر او زغم، عفو او بخښنه | 2 | 2 | ٠ |
| **پنځلسمه** | تواضع او سادګي، عدل او مساوات، کار اهل کار ته سپارل، د مشکلاتو د حل وړتیا درلودل | 2 | 2 | ٠ |
| **شپاړسمه** | شورا او د انتقاد منل، اصلاح او سمون، لوړه حوصله او همت، د راز ساتل | 2 | 2 | ٠ |

| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
|---|---|
| **مقرر کتاب** | **د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتیب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. إحياء علوم الدين للإمام الغزالي<br>2. أخلاق المسلم للشيخ وهبة الزحيلي<br>3. د اسلامي حاکمانو اخلاق او صفات للشيخ عبدالباقي حقانـي<br>4. تربية الأولاد للشيخ عبدالله ناصح علوان<br>5. تحفة الدعاة لإصلاح الرعية والرعاة، دعوت و ارشاد جلب جذب کمپسون<br>6. خلق المسلم للشيخ محمد الغزالي |

## د اسلام د ټولنیز نظام مفردات او اونیز پلان

| | |
|---|---|
| **د پوهنتون نوم:** | - - - - - - - - |
| **د پوهنځي نوم:** | - - - - - - - - |
| **د ډیپارټمنټ نوم:** | **اسلامي ثقافت** |
| **د مضمون کوډ:** | **SL.IC.0376** |
| **د مضمون نوم:** | **اسلامي ثقافت (د اسلام ټولنیز نظام)** |
| **د درسي ساعتونو/ کرېډېټونو شمېر:** | **2 کرېډېټ** |
| **د مضمون بڼه:** | **ټول شمول** |
| **مخکېنی مضمون:** | **نه لري** |
| **سمسټر:** | **درېیم** |

**د مضمون لنډه پېژندنه:**

د اسلام ټولنیز نظام د اسلامي ثقافت د مضامینو په لړکې څلورم مضمون دی چې د منطقي تسلسل له مخې په څلورم سمسټر کې تدریسیږي، د هر مسلمان لپاره د دې نظام پېژندل ځکه ضروري دي چې دا نظام د اسلامي ټولنې د افرادو ترمنځ او د اسلامي ټولنې له نورو غیر اسلامي ټولنو سره اړیکې د قرآن کریم، احادیثو او اسلامي فقهې له لارښوونو سره سمې تنظیموي.

د یاد مضمون له مطالعې او زده کړې وروسته محصل د اسلام د ټولنیز نظام د مفهوم، اصولو، اساساتو، فرد او کورنۍ جوړونې، د کورنۍ له منځه وړلو په عواملو، مستدل او بشپړ معلومات ترلاسه کوي، چې په پایله کې یې د اسلام د ټولنیز نظام له لارښوونو سره سم د فردي او ټولنیز ژوند اداب مراعاتوي، له ټولنیزو ناخوالو سره مبارزه کوي او د ټولنې په وده کې مسؤولانه فعاله ونډه اخلي.

**زده کړه ییزې موخې:**

- د اسلام د ټولنیز نظام د اساساتو په اړه بشپړه پوهه ترلاسه کول او هغه ایتونو او احادیث زده کول چې د ټولنې او د ټولنیز ژوند په اړه راغلي دي.
- د اسلام په ټولنیز نظام کې د کورني نظام د جوړښتونو او د اسلامي ټولنیز نظام له اصولو سره د فردي ژوند د جوړښتونو اړیکه پېژندل.
- هغه لارښوونې او دلایل پېژندل چې پر ټولنه حاکم دي او د ناخوښو دودونو او عرفونو تفکیک.
- د کورنیو شخړو لاملونه مشخصول او حل لارې ورته لټول.
- د اسلام له ټولنیز نظام څخه په علمي او اکاډمیک ډګر کې د دفاع وړتیا ترلاسه کول او د اسلام له لید لوري د ټولنیزو ناخوالو سره د مبارزې لارې چارې پېژندل.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

## د مضمون اونیز درسي پلان

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | د ټولنیز نظام تعریف، اهمیت او اړتیا.<br>د اسلام د ټولنیز نظام تعریف، اهمیت، ارزښت او اړتیا.<br>د اسلام په ځاني او مالي عباداتو کې اجتماعیت<br>• لمونځ، زکات، روژه، حج، سیاست....<br>د اسلام د ټولنیز نظام سرچینې.<br>د اسلام د ټولنیز نظام بنسټونه.<br>د اسلام د ټولنیز نظام ځانګړتیاوې.<br>• الهي وحي، عقیده او ایمان، نیک اخلاق، اخوت، تعاون، ترحم او همدردي، عدالت، مساوات، امر بالمعروف، د قواعدو الزامي والی، نړیوال، کمال او شمول... | 2 | 2 | ۰ |
| **دوهمه** | د اسلام د ټولنیز نظام اساسي اصول.<br>ټولنپوهان:<br>۱- لویدیځوال ټولنپوهان.<br>۲- مسلمان ټولنپوهان.<br>د اسلام ټولنیز نظام اهداف.<br>د اسلامي ټولنې جوړښت د اسلام له لیدلوري.<br>1. د فرد جوړښت<br>2. د کورنۍ جوړښت<br>3. د ټولنې جوړښت<br>**د فرد جوړښت او برخې يې:**<br>• له خپل رب سره اړیکه<br>ایمان او عقیده<br>• له خپل ځان سره اړیکه<br>اخلاق او آداب<br>• له ټولنې سره اړیکه<br>صله رحمې، ترحم، مرسته، غم شریکي او داسې نور<br>**په اسلام کې د فرد جوړونې اصول**<br>• موحد مسلمان<br>• عالم انسان | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | • ښوونکی انسان<br>• متفکر انسان | | | |
| دریمه | **د کورنۍ جوړښت**<br>د کورنۍ مفهوم په اسلامي ټولنه کې او ډولونه يې:<br>1. کوچنۍ کورنۍ<br>2. متوسطه کورنۍ<br>3. لويه کورنۍ<br>د کورنۍ مفهوم په غير اسلامي ټولنو کې.<br>د مسلمانې کورنۍ ځانګړتياوې.<br>د مسلمانې کورنۍ د روزنې اصول.<br>د مسلمانې کورنۍ د جوړښت پر وړاندې خنډونه | 2 | 2 | ۰ |
| څلورمه | د نکاح تعريف<br>د نکاح مشروعيت<br>د نکاح حکم او ډولونه<br>د نکاح ارکان<br>د نکاح شرطونه<br>د زوجينو اهليت<br>د عاقدينو خوښه<br>د ولي موجوديت او اجازه<br>د نکاح آداب<br>د نکاح ګټې او حکمتونه<br>د نکاح اهداف | 2 | 2 | ۰ |
| پنځمه | محرمات او ډولونه يې:<br>• نسبي او سببي.<br>• دائمي او موقت.<br>د مرکې (خِطبه) معنی او مفهوم.<br>د مرکې (خِطبه) شرعي اصول او آداب.<br>د زوجينو د يو او بل د انتخاب معيارونه.<br>له مرکې (خِطبه) وروسته او مخکې تر نکاح له مخطوبې سره د اړيکې حکم | 2 | 2 | ۰ |
| شپږمه | تعدد الزوجات<br>د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د تعدد زوجات حکمتونه. | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د نکاح بېلابېل ډولونه:<br>(موقت، متعه، تحلیل، شغار، مسیار، پټه نکاح)<br>د زوجینو حقوق:<br>1. د خاوند حقوق<br>2. د مېرمنې حقوق<br>3. ګډ حقوق | | | |
| **اوومه** | د اولادونو حقوق:<br>لومړی: مخکې له پیدایښت<br>1. د ښې مور انتخاب<br>2. د ژوند حق ورکول<br>3. د سلامتیا حق<br>دوهم: له پیدایښت وروسته:<br>1. اذان او اقامت<br>2. ښه نوم غوره کول<br>3. عقیقه<br>4. ختنه (سنتول)<br>5. نفقه<br>6. ښه روزنه<br>7. واده<br>د والدینو حقوق:<br>1. احترام<br>2. خدمت<br>3. اطاعت<br>4. د اړتیا پر مهال نفقه ورکول<br>5. دعا ورته کول او داسې نور | 2 | 2 | ٠ |
| **اتمه** | د کورنۍ آداب:<br>د کورنۍ د نړېدلو لاملونه او د مشکلاتو حل.<br>د نکاح له منځه تللو اسباب:<br>لومړی: طلاق (تعریف، مشروعیت، احکام او ډولونه یې)<br>د طلاق لاملونه<br>1. عدم قناعت<br>2. عدم تفاهم<br>3. عدم تحمل او صبر | 2 | 2 | ٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د طلاق د مخنیوي لارې چارې<br>عفو او تفاهم<br>1. نصیحت او سپارښتنه<br>2. بستره بېلول<br>3. شرعي تأدیب<br>4. تحکیم | | | |
| **نهمه** | د طلاق ډولونه او احکام یې:<br>1. رجعي<br>2. بائن<br>3. مغلظ<br>(سني او بدعي طلاق. حسن او احسن طلاق)<br>دوهم: خلع:<br>د خلع پېژندنه، مشروعیت، حکمتونه، شرطونه، پایلې او د خلع بدل)<br>دریم: تفریق:<br>(د تفریق پېژندنه، لاملونه او احکام یې)<br>(د ایلاء، ظهار او لعان پېژندنه او اړوند احکام یې)<br>د مېرمنې عدت، مشروعیت، حکمت، ډولونه او اړوند احکام یې.<br>د اسلام له نظره تحدید نسل حدود، شرطونه او احکام یې. | 2 | 2 | ٠ |
| **لسمه** | **د اسلام په اجتماعي نظام کې د ټولنې جوړونه**<br>د اسلامي ټولنیز نظام د رامنځته کولو لارې چارې<br>1. توحید ته بلنه<br>2. اجتماعي عباداتو ته هڅونه<br>3. په ټولو برخو کې د دین حاکمیت<br>4. په اجتماعي ډول په کارونو کې ګډون<br>5. متقابل مسؤولیت<br>6. ټولنیز چلند ته پاملرنه<br>7. راکړه ورکړه (تعاملات)<br>8. د جزایي قوانینو وضع کول.<br>د اسلام په ټولنیز نظام کې د وحدت د رامنځته کولو لارې چارې:<br>1. پر خلکو نیک ګومان. | 2 | 2 | ٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | 2. له خلکو سره ښه وینا او اخلاق.<br>3. ښه چلند او عدالت.<br>4. عفو او بخښنه.<br>5. صله رحمي.<br>6. له یو بل سره لیده کاته.<br>7. له ګاونډي سره ښه چلند. | | | |
| **یوولسمه** | د ټولنې په اصلاح کې د فرد مسؤولیت<br>د انساني کرامت رعایت<br>ټولنیز آداب<br>د اجازې او لیدنې آداب<br>د سلام آداب<br>د مجلس آداب<br>د خبرو کولو او اورېدلو آداب<br>د معاشرت آداب<br>د مسجد آداب<br>د علم د مجلس آداب<br>د خوراک او څښاک آداب<br>د خوب آداب<br>د کالو اغوستلو آداب<br>د مېلمستیا آداب<br>د ناروغ پوښتنې آداب<br>د لارې آداب<br>د سفر آداب | 2 | 2 | ٠ |
| **دوولسمه** | په اسلامي ټولنه کې د بې نظمی او انحراف لاملونه<br>• سیکولریزم.<br>• لېبرالیزم.<br>• نشنلیزم.<br>• استشراق.<br>• تنصیر.<br>او د داسې نورو انحرافاتو پېژندنه او د ترویج د مخنیوي لارې چارې. | 2 | 2 | ٠ |
| **دیارلسمه** | • د حجاب تعریف، او اهمیت.<br>• د حجاب حکمتونه، ګټې او حکم یې. | 2 | 2 | ٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | • د بې حجابۍ ديني او دنيوي اضرار او مفاسد يې.<br>• تعليمي او تحصيلي چاپيريال کې د اختلاط او بې حجابۍ مفاسد او اضرار.<br>• ديني او دنيوي تاوانونه.<br>• په ادارو کې د نارينه او ښځينه اختلاط مفاسد او اضرار يې. | | | |
| خوارلسمه | اخلاقي انحرافات.<br>اختلاط او د هغې مفاسد.<br>فحشاء او عرياني.<br>خيانت او ډولونه يې.<br>غلا، حکم او ضرورونه يې.<br>رشوت او اداري فساد او د مخنيوي لارې چارې يې. | 2 | 2 | ۰ |
| پنځلسمه | مسکرات او مخدرات او د پېر او پلور حکم او زيانونه يې.<br>سود، غرر، قمار، حکم او زيانونه يې.<br>غيبت، تهمت، تعريف، گناه او حکم يې.<br>موسيقي او رقص او د حرمت دلائل يې.<br>د موسيقي د حرمت فلسفه او زيانونه يې.<br>پر ټولنه د موسيقي ناوړه اغېزې | 2 | 2 | ۰ |
| شپاړسمه | د معاصرو توکو څخه ناسمه استفاده (انټرنټ، ټولنيزي شبکې، تلويزيون او موبايل) | 2 | 2 | ۰ |

| مقرر کتاب او ماخذونه: | |
|---|---|
| مقرر کتاب | د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتيب شي. |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. الهداية، للإمام أبي الحسن علي بن أبي بكر المرغيناني.<br>2. حجة الله البالغة، لشاه ولي الله الدهلوي.<br>3. ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين، للشيخ أبي الحسن علي الندوي.<br>4. البحر الرائق، لابن نجيم الحنفي.<br>5. فقه الأسرة، لوهبة الزحيلي.<br>6. التكافل الاجتماعي فى الإسلام، لمصطفى السباعي.<br>7. تربية الأولاد في الإسلام، لعبدالله ناصح علوان. |

## د فکري پوهنې مفردات او اونیز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | - - - - - - - - |
| د پوهنځي نوم: | - - - - - - - - |
| د ډیپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0477 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (فکري پوهنه) |
| د درسي ساعتونو/ کریډېټونو شمېر: | 2 کرېډېټ |
| د مضمون بنه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | څلورم |

### د مضمون لنډه پېژندنه

دغه مضمون یو له هغو مهمو او ټول شموله مضامینو څخه دی چې په ترڅ کې یې د فکري پوهنې اړوند ځینې مهم موضوعات لکه د یاد مضـــمون د تاریخ په اوږدو کې له بېلابېلو پړاوونو څخه تېرېدل، د فکري او پوځي جګړې ترمنځ توپیر، د غرب فکري سرچینې، ځانګړنې یې، د فکري جګړو د وسایلو لکه صلیبي جګړو، استعمار، د هغو موخې او د صلیبیانو د ناکامېدو لاملونه، اســتشراق، د هغو ډولونه، سـیکولریزم او اسـلامي نړۍ ته یې راتګ، داعیان او موخې یې، همدارنګه تنصـیر، د هغو حقیقت، تاریخي مخینه، وسایل، موخې او د هغو د مخنیوي لارې په ګوته کیږي، همدارنګه ځینې نور مهم مسایل لکه له نړیوالتوب، د هغو له ډولونو سره د محصــلانو اشــنا کول دي، او په پایله کې بیا د اســلامي فکر بنســټیزې سرچینې، ځانګړنې، نړۍ ته یې لاسته راوړنې، همدارنګه د دښمن نیمګړتیاوې او دېته ورته نورې مهمې مسئلې بیانیږي.

د دې مضمون په مطالعه او لوستلو محصلان د سمسټر په پای کې کولای شي چې د غرب له فکري جګړو او د اسلام او مسلمانانو پرخلاف د هغوی له دسیسو څخه ځان خوندي کړي او په اکاډمیکه، منطقي او مستدله توګه له خپلو اسلامي افکارو او ارزښتونو څخه د دفاع کولو جوګه شي.

### زده کړه ییزې موخې:

- د شرعي نصوصو په رڼا کې محصلانو ته د اسلامي فکر په اړه بشپړ معلومات ورکول او روزل یې.
- په اکاډمیکه، منطقي او مستدله توګه له خپلو اسلامي افکارو او ارزښتونو څخه دفاع کول.
- د فزیکي او فکري جګړې ترمنځ محصلانو ته توپیرونه په ګوته کول او د فکري جګړې له خطرناکو اغېزو څخه یې خبرول.
- اسلامي ټولنې ته د ناوړه او ناسمو افکارو د واردېدو مخنیوی او د مقابلې لارې چارې یې په ګوته کول.

### درسي مېتودونه:

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

**د مضمون اونيز درسي پلان**

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | د فکري پوهنې تعريف، اهميت، موضوع، غرض او اهداف.<br>مصادر، اساسات او ځانګړتياوې<br>• فکري جګړه<br>د فکري جګړې تعريف، تاريخ | 2 | 2 | ۰ |
| **دوهمه** | • د فکري جګړې اهداف:<br>1. لويديځو ولسونو ته د اسلامي دعوت د رسيدو مخنيوی.<br>2. د لويديځو ولسونو په منځ کې اسلام بدنامول.<br>3. د اسلامي امت تېر تاريخ بدنامول.<br>4. په نړۍ کې اسلام او مسلمان ولسونه په بېلابېلو پلمو بدنامول.<br>5. مسلمانان په خپلو منځو کې په فزيکي او فکري جګړو بوختول.<br>6. مسلمانان د هغوی د راتلونکي په باب مشکوک ساتل.<br>7. په نړيواله کچه د اسلامي امت په حيث د مسلمانانو نړيوال تشخص ته صدمه رسول.<br>8. په اسلامي هېوادونو کې خپل لاسپوڅي د واک او ځواک پر ګدۍ کښېنول.<br>9. نړيوال اسلامي خوځښتونه بدنامول. | 2 | 2 | ۰ |
| **درېيمه** | • د فکري جګړې وسايل:<br>1. غربي فرهنګ ترويجول.<br>2. علمانيت ( secularism) ترويجول.<br>3. په کاذب او مصنوعي ډول قيادتونه رامنځته کول.<br>4. له تعليمي او تحصيلي نصابونو څخه هغه مواد لرې کول چې د دښمن توطيې افشا کوي.<br>5. ميډيا او رسنۍ تر خپل واک لاندې راوستل. | 2 | 2 | ۰ |
| **څلورمه** | د اسلامي نړۍ پېژندنه<br>د اسلامي نړۍ اهميت<br>ستراتيژيک موقعيت<br>اسلامي نړۍ د دريو لويو وچو (اسيا، افريقا او اوروپا) زړه.<br>هغه بحرونه، کانالونه، خليجونه او سيندونه چې اسلامي نړۍ پرې مستقيم اغېز لري او ګټه ترې اخلي. | 2 | 2 | ۰ |
| **پنځمه** | د اسلامي نړۍ شتمنۍ: | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | 1. کرهڼیزې (زراعتي) شتمنی.<br>2. په نړیواله کچه اقلیمي امتیاز.<br>3. حیواني شتمنی.<br>4. بحري شتمنی.<br>5. معدني شتمنی.<br>6. صنعتي شتتمنی.<br>اسلامي نړۍ د نړیوال سفري (بري، بحري او جوي) کرښو مرکز. | | | |
| **شپږمه** | د اسلامي نړۍ د شاته پاتې کېدو اسباب او لاملونه<br>داخلي لاملونه:<br>1. په ډلو او حزبونو د مسلمانانو وېش.<br>2. په بې ځایه بحثونو او مناظرو مسلمانان اخته کول.<br>3. له یوه ځخه د ډېرو واکمنانو شتون. | 2 | 2 | ٠ |
| **اوومه** | خارجي لاملونه:<br>1. د مغولو یرغل.<br>2. صلیبي جګړې.<br>3. اروپايي استعمار.<br>4. صهیوني تحریک.<br>5. د کمونیزم یرغل. | 2 | 2 | ٠ |
| **اتمه** | د داخلي او خارجي ګواښونو ناوړه عواقب:<br>د اسلامي شریعت نه تطبیقول.<br>د عثماني خلافت سقوط.<br>د وضعي قوانینو د تطبیق پیلامه.<br>په اسلامي هېوادونو د فرانسې، انګلستان او ایټالیې پراخ استعماري یرغل:<br>د فرانسوي استعمار لاندې هېوادونه:<br>الجزائر (۱۸۳۰ م)<br>تونس (۱۸۸۱۰ م)<br>مراکش (۱۹۲۱ م)<br>سنګال (۱۸۸۲ م) | 2 | 2 | ٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۰ | 2 | 2 | د انگلیسي استعمار لاندې هېوادونه:<br>هندوستان (۱۸۵۷ م)<br>مصر (۱۸۸۲ م)<br>عراق (۱۹۱۴ م)<br>فلسطین او اردن (۱۹۱۸ م)<br>سوډان (۱۸۹۸ م)<br>نایجیریا (۱۸۵۱م | نهمه |
| ۰ | 2 | 2 | د ایټالیې تر استعمار لاندې هېوادونه:<br>صومالیا او ارتریا (۱۸۸۷ م)<br>لیبیا (۱۹۱۱ م)<br>د شوروي اتحاد د استعمار لاندې هېوادونه:<br>د منځنۍ اسیا هېوادونه<br>اروپایي هېوادونه | لسمه |
| ۰ | 2 | 2 | د اسلامي نړۍ معاصر وضعیت:<br>فکري وضعیت:<br>لومړۍ مرحله : صلیبي جګړه (CRUSADE WARS).<br>د صلیبي جګړو تاریخ او اهداف<br>دوهمه مرحله : استعمار (COLONIZATION) .<br>د استعمار تګلارې او اهداف | یوولسمه |
| ۰ | 2 | 2 | درېیمه مرحله: استشراق (ختیځ پوهنه –<br>ORIENTALISM).<br>د استشراق تاریخ، ډولونه، تګلارې، اهداف او وسایل.<br>د استشراق موضوعات او د مخنیوي لارې یې.<br>څلورمه مرحله : تنصیري خوځښتونه (CHRISTIANISM).<br>د تنصیر تاریخ، اهداف او وسایل.<br>د تنصیر د مخنیوي لارې. | دولسمه |
| ۰ | 2 | 2 | ټولنیز وضعیت:<br>د ښځو غرب ډوله آزادي:<br>1. د حجاب له منځه وړل.<br>2. د تعدد الزوجات اصل له منځه وړل.<br>3. د ښځینه وو او نارینه وو ترمنځ اختلاط. | دیارلسمه |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | 4. د مساوات او پرمختګ په پلمه له کوره د مسلمانې ښځې ایستل.<br>5. د مسلمانو کورنیو جوړښت له منځه وړل. | | | |
| خوارلسمه | • سیاسي وضعیت:<br>1. د نړۍ قیادت له لاسه ورکول.<br>2. دین او سیاست بېلول. (علمانیت،SECULARISM)<br>3. د دښمن لخوا قومي، حزبي، ژبني، سمتي او الحادي تعصبات او نظریات ترویجول. | 2 | 2 | ۰ |
| پنځلسمه | • اقتصادي وضعیت:<br>1. د استعمار لخوا د مسلمانانو پر شتمنیو ولکه.<br>2. د مسلمانانو خارجي تجارت د استعمار په انحصار کې.<br>3. د اسلامي هېوادونو تولیدات شنډول.<br>4. سود، احتکار او مالي فساد ترویجول.<br>5. د مسلمانانو شتمنۍ په محدودو لاسونو کې انحصارول.<br>6. د اقتصادي فشارونو له لارې مسلمانان له خپلو دیني او ملي ارزښتونو څخه په شا کول. | 2 | 2 | ۰ |
| شپاړسمه | تعلیمي او تقنیني وضعیت:<br>د اسلامي تعلیمي نظام پرځای وضعي تعلیمي نظامونه ترویجول.<br>د شرعي قوانینو پرځای وضعي قوانین ترویجول. | 2 | 2 | ۰ |

| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
|---|---|
| **مقرر کتاب** | **د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتیب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین، للشیخ أبي الحسن علي الندوي.<br>2. رجال الفکر والدعوة، للشیخ أبي الحسن علي الندوي.<br>3. الاتجاهات الفکریة المعاصرة ، علی محمد جریشه دار الوفاء<br>4. أسالیب الغزو الفکري، علی محمد جریشه دار الوفاء<br>5. الحرکة الفکریة ضد الاسلام، برکات عبدالفتاح دویدار<br>6. مفتریات علی الاسلام، احمد محمد جمال |

## د اديان او مذاهب مفردات او اونيز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | -------- |
| د پوهنځي نوم: | -------- |
| د ډيپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0478 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (اديان او مذاهب) |
| د درسي ساعتونو/ کرېډېټونو شمېر: | 1 کرېډېټ |
| د مضمون بڼه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | څلورم |

**د مضمون لنډه پېژندنه:**

اديان او مذاهب د ټول شموله مضامينو په لړ کې يو مهم مضمون دی، چې په کې د الهي او وضعي اديانو په اړه هر اړخيز معلومات په داسې ډول وړاندې کيږي چې د بېلابېلو معتقداتو په اړه د هر دين ليد لورى او لنډ اعتقادي اصول بيانيږي، همدارنګه د ديني مراسمو، شعايرو او نېکيو او بديو په اړه بحثونه کيږي، له مرګ وروسته د بيا را ژوندي کولو په اړه د هر دين ليد لوری بيانيږي، ترڅو د اسماني اديانو او وضعي اديانو ترمنځ د توپير په اړه محصلان بشپړه معلومات ترلاسه کړي.

همدارنګه په ياد مضمون کې د بېلابېلو حق او باطل ډلو او مسلکونو اړوند معلومات، کلي اصول، بنسټونه او سرچينې يې بيانيږي، د اړتيا پر مهال د باطلو مقابله او د راپورته کړيو پوښتنو ځوابول او د حقو ډلو په اړه د دلايلو په رڼا کې خلکو ته قناعت ورکول د ياد مضمون مهمه موخه ده، نو اړينه ده چې هر محصل خپل دين ته د بلنې په ډګر کې پر قانع کوونکو دلايلو سمبال او د ښو او بدو ترمنځ توپير کوونکی وي.

د ياد مضمون له مطالعې او زده کړې وروسته محصل د اسماني او وضعي اديانو او مذاهبو د مراسمو او شعايرو په اړه باوري او بشپړ معلومات ترلاسه کوي، چې په پايله کې يې د اديانو او مذاهبو په اړه ليد لورى روښانه کيږي او د خپل دين او مذهب حقانيت ورته څرګنديږي.

**زده کړه ييزې موخې:**

- د نړۍ د آسماني او وضعي اديانو له اعتقادي اصولو سره د محصلانو اشنا کول.
- د اديانو د مطالعې په پايله کې د اسلام سپېڅلي دين حقانيت څرګندول،
- د باطلو اديانو، فرقو او مذاهبو پېژندل، له اضرارو څخه يې ځان خوندي کول او شکوکو او شبهاتو ته يې په مستدله او علمي توګه ځوابونه موندل.
- د دعوت او بلنې په ډګر کې د اديانو او مذاهبو په اړه کافي معلومات ترلاسه کول، او د اسلام د سپېڅلي دين د دفاع او بلنې په لار کې ترې ګټه اخيستل.

**تدريسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنې ځوابول.

**د مضمون اونیز درسي پلان**

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | د دین لغوي معنا.<br>د دین اصطلاحي تعریف.<br>د دین اهمیت او اړتیا.<br>د دین ډولونه:<br>✓ اسماني ادیان.<br>✓ غیر اسماني ادیان.<br>✓ د دین، مسلک، مذهب او منهج ترمنځ توپیر. | 1 | 1 | ۰ |
| **دوهم** | **الهي ادیان:**<br>**اسلام د الهي ادیانو په لړ کې د وروستني کامل دین په توګه:**<br>✓ د اسلام پېژندنه.<br>✓ د اسلام د حقانیت، کمال او شمولیت دلایل.<br>✓ د اسلام د سپېڅلي دین ځانګړتیاوې.<br>✓ د شریعت، طریقت او مذهب ترمنځ اړیکه او مشهوره کلامي، فقهي او تصوفي فرقې، مذاهب او طریقې. | 1 | 1 | ۰ |
| **درېیمه** | **اسماني تحریف شوي او منسوخ ادیان په پخوانۍ او معاصره بڼه:**<br>**یهودیت:**<br>✓ تعریف.<br>✓ تأسیس او مهم شخصیتونه، او معاصرې فرقې یې.<br>✓ کتابونه، افکار او عقاید یې.<br>✓ د یهودیت د تحریف، منسوخیت او بطلان دلایل.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه یې. | 1 | 1 | ۰ |
| **څلورمه** | **نصرانیت (مسیحیت)**<br>✓ تعریف.<br>✓ تأسیس او مهم شخصیتونه، او معاصرې فرقې یې.<br>✓ کتابونه، افکار او عقاید یې.<br>✓ د مسیحیت د تحریف، منسوخیت او بطلان دلایل .<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه یې. | 1 | 1 | ۰ |
| **پنځمه** | **الصابئة:**<br>✓ تعریف.<br>✓ تأسیس او مهم شخصیتونه او معاصرې فرقې یې.<br>✓ افکار او عقاید یې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه یې. | 1 | 1 | ۰ |
| **شپږمه** | **د غیر اسماني شرقي ادیانو تعریف:**<br>✓ د **زردشتیت** تعریف. | 1 | 1 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ✓ تاسیس او مهم شخصیتونه يې.<br>✓ کتابونه، افکار او عقاید يې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه يې. | | | |
| **اوومه** | ✓ د **هندوایزم** تعریف.<br>✓ تاسیس او مهم شخصیتونه يې.<br>✓ کتابونه، افکار او عقاید يې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه يې. | 1 | 1 | ۰ |
| **اتمه** | ✓ د **بودایزم** تعریف.<br>✓ تاسیس او مهم شخصیتونه يې.<br>✓ کتابونه، افکار او عقاید يې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه يې. | 1 | 1 | ۰ |
| **نهمه** | ✓ د **کنفوشیزم** تعریف.<br>✓ تاسیس او مهم شخصیتونه يې.<br>✓ کتابونه، افکار او عقاید يې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه يې،<br>✓ د **شنتهوایزم** تعریف.<br>✓ تاسیس او مهم شخصیتونه يې.<br>✓ کتابونه، افکار او عقاید يې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه يې. | 1 | 1 | ۰ |
| **لسمه** | **ځینې مشهوري فرقې:**<br>**نصیریه، قرامطه، دروز، اسماعیلیه** او **آغاخانیه** فرقې.<br>✓ تعریفونه يې.<br>✓ تاسیس او مهم شخصیتونه يې.<br>✓ افکار او عقاید يې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه يې. | 1 | 1 | ۰ |
| **یوولسمه** | **د بهائیت، قادیانیت او پروېزیت** فرقې:<br>✓ تعریفونه يې.<br>✓ تاسیس او مهم شخصیتونه يې.<br>✓ افکار او عقاید يې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه يې. | 1 | 1 | ۰ |
| **دوولسمه** | <u>**ځینې مهم معاصر فکري، اقتصادي، سیاسي او ټولنیز نظامونه**</u><br>✓ د **کمونیزم (الشیوعیة) او سوشیالزم (الاشتراکیة)** تعریف.<br>✓ تاسیس او مهم شخصیتونه يې.<br>✓ افکار، عقاید او اصول يې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه يې.<br>✓ نیمګړتیاوې او د بطلان دلایل يې. | 1 | 1 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **دیارلسمه** | ✓ د **کاپیټالیزم (الرأسمالية)** تعریف.<br>✓ تاسیس او مهم شخصیتونه یې.<br>✓ افکار، عقاید او اصول یې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه یې.<br>✓ نیمګړتیاوې او د بطلان دلایل یې. | 1 | 1 | ۰ |
| **څوارلسمه** | د **سیکولریزم** تعریف.<br>✓ تاسیس او مهم شخصیتونه یې.<br>✓ افکار، عقاید او اصول یې.<br>✓ د خپرېدو او اغېز ځایونه یې.<br>✓ نیمګړتیاوې او د بطلان دلایل یې.<br>**التغریب** (غرب ګرایي)<br>د تغریب مفهوم، اهداف او ډګرونه او مخنیوی یې. | 1 | 1 | ۰ |
| **پنځلسمه** | **نړیوالتوب**، مفهوم، ډولونه او ډګرونه یې.<br>• سیاسي.<br>• اقتصادي.<br>• فرهنګي.<br>• اجتماعي.<br>د بشریت او اسلام ضد فتنه: توحید او تقریب الأدیان. | 1 | 1 | ۰ |
| **شپاړسمه** | اسلام او جدیدیت:<br>✓ پېژندنه.<br>✓ اړتیا، اغېزې او نیمګړتیاوې یې. | 1 | 1 | ۰ |

| مقرر کتاب او ماخذونه | |
|---|---|
| **مقررکتاب** | **د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتیب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. الملل والنحل للعلامة محمد بن عبد الكريم الشهرستاني.<br>2. إظهارالحق للشيخ محمد رحمة الله الكيرانوي.<br>3. ما هی النصرانية؟ مفتي محمد تقي العثماني<br>4. الموسوعة الميسرة فی الأديان والمذاهب المعاصرة، الندوة العالمية للشباب الإسلام].<br>5. الاتجاهات الفكرية المعاصرة للشيخ علي محمد جريشة.<br>6. المستشرقون والإسلام للدكتور مصطفی السباعي. |

## د اسلام د سیاسي نظام مفردات او اونیز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | -------- |
| د پوهنځي نوم: | -------- |
| د ډیپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0579 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (د اسلام سیاسي نظام) |
| د درسي ساعتونو/ کریډېټونو شمېر: | 2 کریډېټ |
| د مضمون بڼه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | پنځم |

**د مضمون لنډه پېژندنه:**

د اسلام سیاسي نظام یو له هغو نظامونو څخه دی چې په اړه یې نن ورځ ترټولو زیاتې شبهې شتون لري او له ډېرو بریدونو سره مخ دی، تردې چې د ځینو بې خبرو مسلمانانو ترمنځ د دې پوچې نظریې د خپرېدو لامل شوی دی چې وایي سیاست له دین څخه جلا دی.

دا نظام چې په پنځم سمسټر کې تدریسیږي په ترڅ کې یې محصلان د سمسټر په پای کې د دین او سیاست د اړیکې په اړه د اثبات دلایلو، د اسلام د سیاسي نظام اصولو، اساساتو، جوړښتونو او اهدافو په اړه مستدل او کلي معلومات ترلاسه کوي او په پایله کې یې محصل پوهیږي چې په اسلام کې دولت څنګه جوړیږي؟ د اسلامي واکمن حقوق او وظایف څه دي؟ د رعیت مکلفیتونه څه دي؟ څرنګه اسلامي دولت له نورو دولتونو سره خپلې اړیکې رغوي؟ همدراز په اسلام کې د سولې او جګړې ارزښت او دا چې اسلام څرنګه سوله تامینوي، د سولې بېلابېل ډولونه او د نړۍ له ټولو هېوادونو سره څرنګه سوله او په کومو شروطو او موخو رامنځته کېدای شي.

**زده کړه ییزې موخې:**

- د سیاست له مفهوم او په اسلامي سیاست کې د اسلام د سیاسي نظام له نظریې سره اشنایي، د اسلام د سیاسي نظام د بنسټونو پېژندنه او د اسلامي واکمن او د رعیت حقوق او وجایب پېژندل.
- د شرعي او عقلي سرچینو له مخې دین سره د سیاست اړیکه، په اسلام کې د سیاست او د دین د جلاوالي لاملونه پېژندل او تردید یې.
- د اسلام د سیاسي نظام سرچینې پېژندل، د دولت تشکیلوونکې قوې او د هرې یوې صلاحیتونه، او د اسلام په سیاسي نظام کې د شورا ارزښت پېژندل.
- د ټولنیز عدالت د تامین اصول، له نامسلمانانو سره چلن او د اسلامي دولت له نورو غیر اسلامي دولتونو سره د سولې او جنګ په حالتونو کې اړیکې پېژندل.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

**د مضمون اونیز درسي پلان**

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | • د سیاسي نظام مفهوم.<br>۱- د سیاسي نظام تعریف .<br>۲- اهمیت او تاریخ.<br>۳- د شرعي سیاست تعریف، موضوع، غرض، مشروعیت، شرعي حکم، اهمیت.<br>۴- د اسلام او سیاست ترمنځ تړاو او په اسلام کې د سیاست ځای.<br>۵- له دین سره یې د تلازم دلایل او له دین څخه یې د جلاوالي لاملونه او پایلې.<br>٦- د شرعي او وضعي سیاست مقایسه او پرتله.<br>۷- د اصطلاحاتو پېژندنه:<br>ایمان، دین، شریعت، فقه، حقوق، او قانون. | 2 | 2 | ۰ |
| **دوهمه** | د سیاسي افکارو تاریخ او لید لوری:<br>۱- د نامسلمانو له نظره د سیاسي افکارو تاریخ او لید لوری.<br>۲- فطري حالت.<br>۳- د ټولنیز تړون نظریه.<br>۴- د ځواک نظریه.<br>۵- د پلارواکۍ نظریه.<br>٦- د الهي اصل نظریه.<br>۷- د مسلمانانو له نظره د سیاسي افکارو تاریخ او لید لوری.<br>۸- وحي، الهي حاکمیت او خلافت. | 2 | 2 | ۰ |
| **درېیمه** | د نړۍ بېلابېل عمده سیاسي نظامونه.<br>۱- شاهي .Monarchy<br>۲- اشراف واکي ".Aristocracy"<br>۳- دیکتاتوري .Dictatorship<br>۴- ډیموکراسي .Democracy<br>۵- جمهوریت .Republic | 2 | 2 | ۰ |
| **څلورمه** | • جمهوریت او ډیموکراسي.<br>۱-د ډیموکراسۍ تعریف.<br>۲- فلسفه او فکري بنسټونه یې.<br>۳-د ډیموکراسۍ د منځته کېدو تاریخي لاملونه.<br>۴- د ډیموکراسۍ له اغېزې جوړې شوې ادارې:<br>1) سیاسي گوندونه. | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | 2) ټاکنې.<br>3) مقننه.<br>4) اساسي قانون.<br>۵- د جمهوریت او ډیموکراسۍ نقد او پرتله. | | | |
| **پنځمه** | -د اسلام د سیاسي نظام سرچینې.<br>1) اصلي او اتفاقي سرچینې.<br>2) فرعي او اختلافي سرچینې.<br>۲- د اسلام د سیاسي نظام بنسټونه.<br>۳- د اسلام د سیاسي نظام اهداف. | 2 | 2 | ۰ |
| **شپږمه** | ۱- د اسلام د سیاسي نظام ځانګړتیاوې.<br>۲- د اسلام د سیاسي نظام اساسي اصول.<br>۳- د اسلام د سیاسي نظام شرطونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **اوومه** | ۱- د دولت تعریف، اهمیت، تاریخ، د رامنځته کېدو لاملونه او بېلابېلې نظریې او د تشکیل عناصر یې.<br>۲- د اسلام په سیاسي نظام کې د دولت تعریف، اهمیت، تاریخ د دولت بنسټیز عناصر او ارکان.<br>۳- د حکومت تعریف، مشروعیت او د مشروعیت منابع. | 2 | 2 | ۰ |
| **اتمه** | ۱- د اسلام په سیاسي نظام کې د دولت مشر نومونه، القاب او شرعي حیثیت یې.<br>۲- د دولت د مشر شروط او مواصفات.<br>۳- د امیر د ټاکلو شرعي حکم.<br>۴- د امیر دټاکلو طریقې:<br>• بیعت:<br>1) د بیعت تعریف.<br>2) د بیعت مشروعیت.<br>3) د بیعت حکم.<br>4) د بیعت ډولونه.<br>• شورا (اهل حل او عقد)<br>• استخلاف:<br>1) د استخلاف تعریف.<br>2) د استخلاف مشروعیت.<br>3) د استخلاف ډولونه.<br>4) د استخلاف شرعي حکم.<br>5) د استخلاف او ولیعهدۍ ترمنځ فرق.<br>• استیلاء:<br>1) د استیلاء تعریف.<br>2) د استیلاء ډولونه. | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | 3) د استیلاء شرعي حکم.<br>۵- د شرعي او وضعي ټاکنيز نظام ترمنځ فرق او پرتله. | |
| ۰ | 2 | 2 | په اسلامي نظام کې د امام او رعیت حقوق او وجایب.<br>په اسلام کې د حقوقو او وجایبو اصول او اساسات.<br>• د امام حقوق:<br>1) اطاعت.<br>2) نصیحت.<br>3) مرسته.<br>4) درناوی.<br>5) له بیت المال څخه یې لګښت.<br>6) دعاء<br>د امام او اسلامي حکومت وجایب او مسؤلیتونه:<br>1) له شرعي اصولو سره سم د دولت چارې اداره کول.<br>2) دولتي منصبونو ته امین او وړ افراد ټاکل.<br>3) د دین ساتل او شریعت حاکمول.<br>4) حدود قایمول.<br>5) عبادات قایمول.<br>6) زکات راټولول او بیت المال تنظیمول.<br>7) عدل او انصاف پلي کول.<br>8) په نیکیو امر او له بدیو منع کول.<br>9) امنیت تامینول.<br>10) د رعیت حقوق تامینول.<br>11) د دولت له حریم څخه دفاع. | نهمه |
| ۰ | 2 | 2 | • وزیران او والیان.<br>۱- د وزیر تعریف، د وزیرانو ډولونه،د تفویض وزیر، د تنفیذ وزیر.<br>۲- د وزیرانو شروط او صفات او د ټاکلو طریقه او عزل یې.<br>۳- د وزیرانو صلاحیتونه او مسؤلیتونه.<br>۴- د والي تعریف، شروط او صفات،د ټاکلو طریقه او عزل.<br>صلاحیتونه او مسؤلیتونه.<br>۵- د امام عزل، د عزل اسباب، د عزل صلاحیت او طریقې.<br>٦- د اسلامي نظام پرخلاف بغاوت او احکام یې. | لسمه |
| ۰ | 2 | 2 | • مقننه قوه.<br>د مقننه قوې تعریف، اهمیت او تاریخ. | یوولسمه |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د اسلام په سیاسي نظام کې د قانون جوړونې اصول او اساسات.<br>په اسلام کې د قانون جوړونې حدود، ساحه او مجال.<br>• شورا:<br>1. د شورا تعریف.<br>2. د شورا نومونه.<br>3. د شورا ډولونه.<br>4. ملزمه شورا.<br>5. معلمه شورا.<br>6. سیاسي شورا.<br>7. تقنیني شورا.<br>8. د شورا مشروعیت.<br>9. د شورا حکم. | | | |
| **دولسمه** | د شورا د غړو تعداد، شروط او صفات.<br>د شورا د غړو د انتخاب طریقه.<br>د شورا صلاحیتونه او مسؤلیتونه.<br>د غړو د انتخاب او عزل صلاحیت.<br>د اسلام په سیاسي نظام کې مقننه قوه او له نورو معاصرو مقننه قوو سره یې مقارنه. | 2 | 2 | ٠ |
| **دیارلسمه** | • قضائیه قوه.<br>۱- د قضائیه قوې تعریف او اهمیت.<br>۲- د اسلام په سیاسي نظام کې د قضائیه قوې تعریف، اهمیت او تاریخ.<br>۳- د قضائیه قوې مشروعیت، شرعي حکم او فضیلت. | 2 | 2 | ٠ |
| **څوارلسمه** | ۱- د قضائیه قوې اصول، اساسات اوخپلواکي.<br>۲- د قاضي شروط، صفات، اداب، صلاحیتونه او مسؤلیتونه.<br>۳- د اسلام په سیاسي نظام کې قضائیه قوه او له نورو معاصرو قضائیه قوو سره یې پرتله. | 2 | 2 | ٠ |
| **پنځلسمه** | • نړیوالي اړیکې.<br>۱- له نورو اسلامي هېوادونو سره د اسلامي هېواد د اړیکو شرعي اصول.<br>۲- د غیر اسلامي هېوادونو سره د اسلامي هېواد د اړیکو شرعي اصول.<br>۳ -د غیر اسلامي هېوادونو ډولونه:<br>1. دار الحرب.<br>2. دار الأمن. | 2 | 2 | ٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ۴- د جنګ په حالت کې له غیر اسلامي هېوادونو سره د اړیکو اصول او حدود یې.<br>۵- موالات<br>٦- د جهاد مشروعیت، شرعي حکم، فضیلت، حکمت او اداب یې. | | | |
| **شپاړسمه** | ۱- د سولې په حالت کې د اړیکو اصول او حدود.<br>۲- د سولې او تړونونو اصول او شروط.<br>۳- په اسلام کې د انساني اړیکو بنسټونه او اصول:<br>• انساني کرامت.<br>• د انساني ټولنې وحدت.<br>• تسامح<br>• اخلاقي ارزښتونه.<br>• همدردي.<br>• عدالت.<br>• مرسته.<br>• بالمثل معامله.<br>• په ژمنه وفا.<br>۴- تړونونه او پرې ژمن پاتې کېدل.<br>۵- د ګډې دفاع تړونونه او شروط یې. | 2 | 2 | ۰ |

| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
|---|---|
| **مقرر کتاب** | **د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتیب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1 . الأحکام السلطانیة، للماوردي<br>2 . السیاسة الشرعیة. عبدالوهاب خلاف.<br>3 . السیاسة والإدارة فی الإسلام. عبدالباقي حقاني.<br>4 . اسلام او سیاسي اندونه، مفتی محمد تقی عثماني. |

## د اسلام د اداري نظام مفردات او اونيز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | -------- |
| د پوهنځي نوم: | -------- |
| د ډيپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0580 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (د اسلام اداري نظام) |
| د درسي ساعتونو/ کرېډېټونو شمېر: | 2 کرېډېټ |
| د مضمون بڼه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | پنځم |

**د مضمون لنډه پېژندنه:**

د اسلام اداري نظام هم يو له هغو بنسټيزو مضامينو څخه دی چې ډېری هغو پوښتنو ته پکې ځواب ويل شوی چې ايا اسلام له خپله کوم اداري سېستم او کړنلاره لري او که په دې اړه مسلمانان اړ دي چې له نورو زده کړه ترلاسه کړي؟ نو دلته به د اسلام هر اړخيزه اداري کړنلارې او اصول په گوته کيږي.

دا نظام هم په پنځم سمسټر کې تدريسيږي په ترڅ کې يې محصلان د سمستر په پای کې په اسلام کې د اداري جوړښت د اثبات دلايلو، د اسلام اداري نظام اصولو، اساساتو، جوړښتونو او اهدافو په اړه مستدل او کلي معلومات ترلاسه کوي او په پايله کې يې محصل پوهيږي چې په اسلام کې اداري جوړښت څه ډول دی او کوم اصول لري؟ د اداري مراتبو او رعايت څه حيثيت لري؟ د اداري پر وړاندې د رعيت مکلفيتونه څه دي؟ د اسلامي حکومتولی په اداري چوکاټ کې د خلکو پر وړاندې مسؤوليتونه څه دي؟ همدارنگه کاري وختونه، له بيت المال څخه د واکمن د گټې اخېستلو حدود او په هغو کې نور تصرفات د کومو اصولو له مخې کولای شي؟ په ادارو کې گومارنه او عزل د کومو اصولو له مخې بايد وشي او څه ډول خلکو ته لومړيتوب ورکړل شي؟

**زده کړه ييزې موخې:**

- د ادارې له مفهوم او په اسلامي حکومتولی کې د اداري نظام له نظريې سره اشنايي، د اسلام اداري نظام د بنسټونو پېژندنه او په اسلامي حکومتولی کې د اداري اصولو او کړنلارې پېژندنه.
- د شرعي اصولو له مخې په اداره کې د گومارنې او عزل د اصولو پېژندنه او د هغه د پلي کولو لارې چارې په گوته کول.
- د اسلام د اداري نظام سرچينې پېژندل، د دولت د بېلابېلو ارگانونو ترمنځ د اړيکې پېژندنه او د يوبل په کارونو کې د مداخلې او نه مداخلې حدودو پېژندنه.
- د اسلامي واکمن د تېروتنو اصلاح، د مشورې حيثيت او حکم او په پايله کې د قائمې اداري پر خلاف د وتلو حکم پېژندل.
- د ټولنيز عدالت د تامين اصول، د اداري وختونو پيل او پای، د کارمندانو لپاره د حق الزحمې ټاکل او له علمي او کاري وړتيا سره يې سمه اندازه په گوته کول.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

**د مضمون اونیز مفردات**

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | عملي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | د ادارې لغوي او اصطلاحي معنا.<br>د ادارې ډولونه.<br>د ادارې تاریخ او اهمیت. | 2 | 2 | ۰ |
| **دوهمه** | د پیغمبرانو علیهم السلام په تاریخ کې اداره.<br>د رسول الله صلی الله علیه وسلم او راشده خلفاوو په وخت کې اداره. | 2 | 2 | ۰ |
| **درېیمه** | د اداري احکامو د استخراج سرچینې.<br>د اداري احکامو اهداف او مقاصد.<br>د اسلامي ادارې ځانګړتیاوې. | 2 | 2 | ۰ |
| **څلورمه** | د اسلامي ادارې د جوړولو ضرورت او په اداره کې د حاکمانو او مسؤولینو د ټاکلو اړتیا.<br>د حاکمانو او مسؤولینو ټاکنه. | 2 | 2 | ۰ |
| **پنځمه** | د حاکمانو او مسؤولینو د ټاکلو صلاحیت او اختیار.<br>په اسلامي اداره کې د ټاکلو اصول. | 2 | 2 | ۰ |
| **شپږمه** | د لوړو پوړو حاکمانو او مسؤولینو په ټاکنه کې مشوره.<br>د حاکم او مسؤول ځانګړتیاوې.<br>امانتداري، اهلیت او داسې نور. | 2 | 2 | ۰ |
| **اوومه** | د منصب او مقام غوښتنه<br>له ټولنیزو ګټو پرته د منصب غوښتنه.<br>د ټولنیزو ګټو لپاره د منصب غوښتنه. | 2 | 2 | ۰ |
| **اتمه** | د دیني او ټولنیزو مصلحتونو پر بنسټ مسؤولیت او منصب سمبالول  او د پیغمبرانو علیهم السلام سنت.<br>په اسلامي شریعت کې د نیک حاکم مرتبه. اجر او ثواب. | 2 | 2 | ۰ |
| **نهمه** | د ټاکنو تګلاره او اصول.<br>له علمي او بدني وړتیا سره سم منصب سپارل او ګټې یې.<br>د ګومارل شوي تن ازمویل.<br>په ګومارنه کې اصلح ته په صالح ترجیح ورکول. | 2 | 2 | ۰ |
| **لسمه** | د ټاکونکي دندې او مسؤولیتونه.<br>ټاکل شویو حاکمانو ته لارښوونې. | 2 | 2 | ۰ |
| **یوولسمه** | د ټاکل شویو حاکمانو اړتیاوې پوره کول.<br>ګومارل شویو ته د امیر سپارښتنې، مشورې او لارښوونې. | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **دولسمه** | د حاکمانو دندې او وجيبې.<br>د ديندارو، عالمانو او پوهانو د مشورو پابندي. | 2 | 2 | ۰ |
| **دیارلسمه** | د وخت پابندي.<br>له منصب څخه د ناوړې ګټې اخيستنې حرمت.<br>د خلکو نیوکې اوریدل او اصلاح. | 2 | 2 | ۰ |
| **څوارلسمه** | د مسؤولینو څارنه.<br>د څارنې حدود.<br>د څارنې اداب او کړنلار. | 2 | 2 | ۰ |
| **پنځلسمه** | ظالم حاکم ته سزا ورکول.<br>د مکافاتو او مجازاتو اصل. | 2 | 2 | ۰ |
| **شپاړسمه** | د حاکمانو او مسؤولینو عزل او شرطونه يې. | 2 | 2 | ۰ |

| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
|---|---|
| مقرر کتاب | **د لاندې ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتیب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 5 . الأحكام السلطانية، للماوردي<br>6 . السياسة الشرعية. عبدالوهاب خلاف.<br>7 . السياسة والإدارة فى الإسلام. عبدالباقي حقاني.<br>8 . اسلام او سیاسي اندونه، مفتی محمد تقی عثماني. |

## د اسلام د اقتصادي نظام مفردات او اونيز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | -------- |
| د پوهنځي نوم: | -------- |
| د ډيپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0681 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (د اسلام اقتصادي نظام) |
| د درسي ساعتونو/ کرېډېټونو شمېر: | 2 کرېډېټ |
| د مضمون بڼه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | شپږم |

**د مضمون لنډه پېژندنه:**

اقتصاد د بشري ژوند د ملا د تير په څېر د بشر له مهمو اړتياوو څخه ګڼل کيږي، د اسلام سپېڅلی دين نه يوازې اقتصادي احکام لري، بلکې د عباداتو له جملې څخه په اسلام کې يو مهم مالي عبادت زکات دی، له همدې امله د اسلامي ثقافت د نصاب په چوکاټ کې په شپږم سمسټر کې د اسلام اقتصادي نظام لوستل کيږي.

د سمسټر په پای کې محصلان د اسلام د اقتصادي نظام او نورو پېژندل شويو اقتصادي نظامونو، د مال او په اسلام کې يې د ارزښت او هدف، د ملکيت ډولونو، عوايدو، مصارفو او د مال د ګټلو او ورته وده ورکولو د شرطونو په اړه کلي معلومات ترلاسه کوي چې په پايله کې يې د فردي او ټولنيز اقتصاد په رغېدو او وده کې د اسلامي لارښوونو او احکامو په پلي کولو کې هر اړخيز کوښښ کوي.

**زده کړه ييزې موخې:**

- د اسلامي اقتصادي نظام کلي مباحث او مفاهيم پېژندل او د نورو وضعي اقتصادي نظامونو په اړه پرتليز او مقايسوي معلومات ترلاسه کول.
- په عوايدو، مصارفو او د شتمنۍ په وېش کې د اسلام اقتصادي نظام او د نورو وضعي نظامونو لکه سوسيالستي او پانګوال نظامونو ترمنځ توپيرونه پېژندل.
- د اسلام په اقتصادي نظام کې د ملکيت ډولونه او د هر ډول ځانګړنې پېژندل.
- په اسلام کې د خصوصي ملکيت مشروع او نامشروع اسباب، د سود ډولونه، احکام او د حرمت فلسفه او سودي اجناس پېژندل.
- د مشروع شرکت ډولونه پېژندل او د بيمې له احکامو او ډولونو سره بلدتيا، او د بيمې د بديل په توګه تکافل پيژندل.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

**د مضمون اونیز درسي پلان**

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | ۱- د اقتصادي نظام تعریف، موضوع، اهمیت، اهداف او تاریخ یې.<br>۲- د اقتصادي نظام بنسټیز مسایل:<br>أ. لومړیتوبونه ټاکل.<br>ب. د وسایلو ځانګړنه.<br>ج. د عوایدو وېش.<br>د. پرمختګ. | 2 | 2 | ۰ |
| **دوهمه** | د پانګوال، سوسیالیستي، او مخلوط اقتصادي نظامونو تعریف، تاریخ، اصول او څلور ګونو مسایلو حل او نیمګړتیاوې یې. | 2 | 2 | ۰ |
| **درېیمه** | ۱- د اسلام د اقتصادي نظام تعریف، اهمیت.<br>د اسلام د اقتصادي نظام تاریخ:<br>✓ د نبوت په پیر کې.<br>✓ ترې وروسته پیر.<br>✓ معاصره بڼه یې.<br>۲- د اسلام د اقتصادي نظام سرچینې، بنسټونه، اساسي اصول.<br>د اسلامي اقتصاد ځانګړتیاوې او اهداف.<br>۲- د اسلام د اقتصادي نظام بهتري او له نورو وضعي نظامونه سره یې پرتله. | 2 | 2 | ۰ |
| **څلورمه** | د اقتصادي ازادۍ مفهوم، حدود او شرعي اصول یې.<br>اقتصادي ازادي په بېلابېلو نظامونو کې.<br>په اسلام کې د اقتصادي ازادۍ د محدودیت لاملونه او ډولونه.<br>په اقتصادي چارو کې د دولت مداخله.<br>د مداخلې مفهوم، اهمیت، اهداف او مشروعیت او ډولونه یې.<br>د مداخلې له پلوه د اقتصادي چارو ډولونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **پنځمه** | ملکیت، د ملکیت اسباب، ډولونه، د خصوصي ملکیت تعریف، ځانګړتیاوې، اهداف او پرې محدودیتونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **شپږمه** | د خصوصي ملکیت سرچینې:<br>بیعه، اجاره، زراعت، صنعت... | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اوومه | د عمومي ملکيت تعريف، ثبوت، ځانګړتياوې،<br>اهداف او سرچينې:<br>خيريه اوقاف،حمى، معدنونه وغيره. | 2 | 2 | ۰ |
| اتمه | د ملکيتونو ترمنځ تعارض او د ساتنې وسايل يې.<br>د خصوصي او عمومي ملکيت د تعارض پرمهال لومړيتوب. | 2 | 2 | ۰ |
| نهمه | توليدات، شراکتونه، د توليد هڅوونکي، د مشروع توليد عوامل، عوايد، مشروع عوايد، شخصي عوايد، دولتي عوايد او سرچينې يې.<br>غير مشروع عوايد:<br>✓ سود، ډولونه يې، سودي توکي او احکام يې، د سود حرمت، د سود د حراموالي حکمت، په استهلاکي او استثماري قرضونو سود.<br>✓ د غير مشروع عوايد نورې سرچينې | 2 | 2 | ۰ |
| لسمه | ۱- د عوايدو وېش، د عوايدو په وېش کې د اسلام اقتصادي نظام او وضعي نظامونه ترمنځ توپيرونه.<br>۲- مصارف، په اسلامي اقتصاد کې د لګښت موخې، د لګښت ډولونه.<br>۳- د اسلامي هېواد اقتصادي مسؤليتونه. | 2 | 2 | ۰ |
| يوولسمه | اسلامي بانکوالي.<br>د بانک تعريف، اهميت، تاريخ، ډولونه او کړنې يې.<br>د اسلامي بانکوالۍ تعريف، اهميت، اړتيا، تاريخ او اهداف يې. | 2 | 2 | ۰ |
| دولسمه | د مشارکت پر بنسټ تمويل.<br>۱- په اسلامي بانکوالۍ کې د تمويل لارې چارې:<br>مثالي لارې چارې.<br>غير مثالي لارې چارې.<br>۲- د شرکت تعريف، مشروعيت، ډولونه او شرطونه يې.<br>په اسلامي بانکوالۍ کې د مشارکت پر بنسټ د تمويل بېلګې. | 2 | 2 | ۰ |
| ديارلسمه | ۱- د مضاربت تعريف او مشروعيت.<br>۲- د مضاربت عناصر، شرطونه او ډولونه.<br>۳- د مشارکې او مضاربې ترمنځ توپيرونه.<br>د مضاربت پر بنسټ تمويل. | 2 | 2 | ۰ |
| څوارلسمه | •د مرابحې او اجارې پر بنسټ تمويل.<br>۱- د مرابحې او اجارې تعريف او مشروعيت. | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ۲- د مرابحې او اجارې عناصر، ډولونه او شرطونه يې. | | | |
| پنځلسمه | د سلم او استصناع پر بنسټ تمويل.<br>۱- سلم او استصناع تعريف او مشروعيت يې.<br>۲- د سلم او استصناع عناصر او شرطونه.<br>۳- د سلم او استصناع ترمنځ توپيرونه.<br>حسنه قرض، د حسنه قرض اقتصادي ګټې، د اسلامي پانګونې صندوق. | 2 | 2 | ۰ |
| شپاړسمه | بيمه او تکافل.<br>۱- د بيمې او تکافل پېژندنه.<br>✓ د بيمې ډولونه.<br>✓ د بيمې د نامشروعيت دلايل او اسباب.<br>۲- د بيمې د بديل په توګه تکافل.<br>۳- د تکافل فقهي شکلونه<br>**پول**<br>د پولي واحد تعريف، ډولونه، د اسلام د پولي سياست اصول، د پولي واحدونو تر منځ تبادله او احکام يې، په پولي واحدونو کې سود. | 2 | 2 | ۰ |

| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
|---|---|
| **مقرر کتاب** | **د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتيب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. صيغة مقترحة لقانون البيع الإسلامي، الشيخ تقي العثماني<br>2. اسلام او نوی تجارت، مفتي محمد تقي عثماني<br>3. د اسلامي بانکوالۍ بنسټونه، مفتي محمد تقي عثماني<br>4. النظام الاقتصادي في الإسلام، مجموعة من العلماء<br>5. اسلامي اقتصاد او بانکوالي، مفتي عبدالحق حقاني |

## د قرآن او معاصرو علومو مفردات او اونيز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | - - - - - - - - |
| د پوهنځي نوم: | - - - - - - - - |
| د ډیپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0782 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (قرآن او معاصر علوم) |
| د درسي ساعتونو/ کرېډېټونو شمېر: | 2 کرېډېټ |
| د مضمون بنه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | اووم |

**د مضمون لنډه پېژندنه:**

قرآن کريم او معاصر علوم د اسلامي ثقافت د مضامينو څخه يو مهم ټول شموله مضمون دی چې د تحصيلي نصاب په چوکاټ کې په اووم سمسټر کې تدريسيږي، دا مضمون په کلي توګه د قرآن کريم د مطالبو اړيکه له معاصرو علومو سره بيانوي او په سمه توګه د اسلام په پېژندنه کې ورته څرګنده اړتيا ليدل کيږي، ځکه چې معاصرې ټکنالوژۍ ځينې هغه ځوانان له خطرناکو شکوکو او شبهو سره مخامخ کړي دي چې د قرآني مضامينو په اړه کافي معلومات نه لري، د بېلګې په توګه داسې ګومان کول چې د علم او ټکنالوژۍ د پرمختګ په زمانه کې د قرآن کريم مطالب د پلي کېدو وړ نه دي.

خو معاصرو علومو چې څومره نوښتونه رامنځته کړي په حقيقت کې له هغه څه پرته بل څه نه دي چې څه باندې يو زر او څلور سوه کاله مخکې د قرآن کريم او نبوي سنتونو په علمي اشارو کې راغلي دي.

د دې مضمون په لوستلو د سمسټر په پای کې محصلان د قرآن کريم د نزول صورتونو، مرحلو، حقوقو، او د اعجاز پر بېلابېلو اړخونو او له نويو ايجاداتو سره يې د تړاو په اړه، کلي علمي معلومات ترلاسه کوي او په پايله کې يې د قرآن کريم د علمي اعجاز له عظمت او لويي سره لا ښه اشنا کيږي او په انفرادي او ټولنيز ژوند کې د قرآن کريم د لارښوونو په پلي کولو کې بې دريغه هڅې او کوښښونه کوي او د ژوند په هره برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کوي.

**زده کړه ييزې موخې:**

- د قرآن کريم د عمومي او کلي مباحثو، د نزول مرحلو او پړاوونو، د اعجاز اړخونو او د دهغه تلپاتې الهي کلام د اعجازي بېلګو پېژندل.
- د قرآن کريم د حقوقو، مقاصدو، او اهدافو درک او پېژندنه.
- د قرآن کريم د اعجاز اړخونه، له معاصرو اکتشافاتو سره د قرآن کريم اړيکه او د معاصرو علومو له لوري پر وړاندې شويو نظريو د باور کچه او کيفيت پېژندل.
- د سيارو د پيدايښت، په مدارونو کې يې حرکت، د انساني پيدايښت پرمختګ، د باران اورېدل او په کايناتو کې د جوړې د نظام د شتون په اړه په قرآني مطالبو پوهه ترلاسه کول.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

**د مضمون اونیز درسي پلان**

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | د قرآن کریم لغوي معنا.<br>د قران کریم اصطلاحي تعریف.<br>• وحي او ډولونه یې.<br>• وحي جلي (متلو).<br>• وحي خفي (غیر متلو (نبوي احادیث).<br>نبوي احادیث او مقام یې.<br>• د قرآن کریم نومونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **دوهمه** | د قرآن کریم د نزول مرحلې.<br>• د قرآن کریم تدریجي نزول او حکمتونه یې.<br>• په قرآن کریم کې د نسخې حکمتونه.<br>• اسباب نزول، په اسباب نزول کې اختلاف او د پېژندنې گټې یې. | 2 | 2 | ۰ |
| **درېیمه** | د وحي لیکونکي.<br>• د قرآن کریم جمع کولو ډولونه، پړاوونه او د هر پړاو خصوصیات او کړنلاره.<br>• هغه توثیقي لارې چارې چې د قرآن کریم په جمع کولو کې ترې گټه اخیستل شوې ده.<br>• د قرآن کریم نسخې.<br>• قراءتونه او د قراءت او روایت ترمنځ توپیر او د قراءت اصول او شروط. | 2 | 2 | ۰ |
| **څلورمه** | د قرآن کریم د سورتونو او آیتونو شمېر<br>• د سورتونو ترتیب او د قرآن کریم د ویش گټې.<br>• د قرآن کریم د سورتونو ډولونه.<br>• د مکي او مدني سورتونو خصوصیات .<br>• د اندازې له پلوه د سورتونو ډولونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **پنځمه** | د قرآن کریم حقانیت او د عدم تحریف دلایل.<br>د قرآن کریم په اړه د غربي پوهانو نظرونه.<br>هغه علوم چې قرآن کریم پرې مشتمل دی.<br>• د قرآن کریم اساسي موضوعات. | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | • د مختلفو علماوو نظرونه (غزالي، دهلوي، ابن عاشور، رشيد رضا). | | | |
| **شپږمه** | د قرآن کریم فضائل،<br>• د قرآن کریم صفات،<br>• په ژوند کې د قرآن کریم اهمیت،<br>• د قرآن کریم حقوق.<br>• د قرآن کریم د تلاوت آداب. | 2 | 2 | ۰ |
| **اوومه** | معجزه او ډولونه يې:<br>• د معجزې تعريف.<br>• د معجزې شرطونه.<br>• د رسول الله صلی الله علیه وسلم معجزې.<br>• د قرآن کریم اعجاز.<br>• د قرآن کریم د اعجاز ډولونه. | 2 | 2 | ۰ |
| **اتمه** | • د قرآن کریم بیاني او بلاغي اعجاز.<br>• د قرآن کریم تشريعي اعجاز.<br>• د غیبو په اړه د قرآن کریم خبر ورکول. | 2 | 2 | ۰ |
| **نهمه** | • د قرآن کریم علمي اعجاز.<br>• د قرآن کریم د علمي اعجاز په اړه د علماء نظريات.<br>• د قرآن کریم علمي تفسیر او د قرآن کریم علمي اعجاز تر منځ فرق. | 2 | 2 | ۰ |
| **لسمه** | • د قرآن کریم د علمي اعجاز نمونې:<br>• خلقت او د کائناتو پراختيا د قرآن کریم او معاصرو علومو له نظره.<br>• په هر څه کې زوجیت.<br>• شپه او ورځ د قرآن کریم او معاصرو علومو له نظره.<br>• له ستنو پرته آسمان.<br>• د اسمان او ځمکې جدايي.<br>• د ځمکې مرکزیت.<br>• د ځمکې کرويت.<br>• د ځمکې حرکت. | 2 | 2 | ۰ |
| **يوولسمه** | د غرونو شکلونه او د هغوی دندې د قرآن کریم او معاصرو علومو له نظره.<br>• د ونو تلقيح | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **دولسمه** | • د انسان خلقت د قرآن او معاصر علومو له نظره.<br>• د انسان د خلقت مراحل په قرآن کې.<br>• (د جنین د نمو پړاوونه). | 2 | 2 | ٠ |
| **دیارلسمه** | د نباتاتو په اړه د قرآن او معاصرو علومو نظر.<br>• علمي حقائق د نباتاتو په اړه.<br>• چاپېریال ساتنه د قرآن کریم له نظره. | 2 | 2 | ٠ |
| **څوارلسمه** | د سمندرونو په اړه د قرآن کریم او معاصرو علومو نظر.<br>• د سمندرونو ترمنځ حایل. | 2 | 2 | ٠ |
| **پنځلسمه** | • په حرامو خوړو کې علمي اعجاز. | 2 | 2 | ٠ |
| **شپاړسمه** | • د خبائثو شیانو په اړه د قران کریم لارښوونې او تفصیل یې. | 2 | 2 | ٠ |

| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
|---|---|
| **مقرر کتاب** | **د لاندې ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتیب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. الإتقان في علوم القرآن، للإمام السيوطي.<br>2. مناهل العرفان، للإمام الزرقاني.<br>3. علوم القرآن، للشيخ شمس الحق الأفغاني.<br>4. علوم القرآن، للشيخ تقي العثماني.<br>5. التبيان في علوم القرآن، للشيخ محمد علي الصابوني.<br>6. أصول التفسير الميسرة، للشيخ خالد سيف الله الرحماني<br>7. مباحث فی علوم القرآن للشيخ مناع القطان.<br>8. شريعة القرآن من دلائل إعجازه للشيخ أبو زهرة.<br>9. الإعجاز العلمی فی القرآن الكريم للدكتور زغلول النجار.<br>10. الإعجاز العلمي فی القرآن والسنة للدكتور عبدالله بن عبدالعزيز المصلح. |

## د اسلامي تمدن مفردات او اونيز پلان

| | |
|---|---|
| د پوهنتون نوم: | -------- |
| د پوهنځي نوم: | -------- |
| د ډيپارټمنټ نوم: | اسلامي ثقافت |
| د مضمون کوډ: | SL.IC.0883 |
| د مضمون نوم: | اسلامي ثقافت (اسلامي تمدن) |
| د درسي ساعتونو/ کرېډېټونو شمېر: | 2 کرېډېټ |
| د مضمون بڼه: | ټول شمول |
| مخکېنی مضمون: | نه لري |
| سمسټر: | اتم |

**د مضمون لنډه پېژندنه**

د اسلامي تمدن مضمون چې د اسلامي ثقافت د تحصيلي نصاب په چوکاټ يو مهم مضمون دی، چې په حقيقت کې د اسلامي تاريخ هغه برخه ده چې اوسـنيو مسـلمانانو او په ځانگړې توگه ځوان قشرـ هېر کړی دی چې پرې خبربدل او په سـمه توگه يې پېژندل د محصلانو بنسټيزه اړتيا ده.

د سمسټر په پای کې محصلان د تمدن پر مفهوم، د تمدنونو د رامنځته کېدو پر عواملو، د تمدنونو رغنده عناصرو، په ځانگړې توگه د اسلامي تمدن پر عناصرو، د تمدن د لاسته راوړنو په لاره کې د سـمون او مثبت تغيير په اړه د اسلام د رول، په اړه کلي معلومات ترلاسه کوي.

او په پايله کې يې محصل کولای شي چې د تمدن د اساساتو ترڅنگ د تمدن په مختلفو برخو او په بېلابېلو علومو کې لکه: کيميا، فزيک، رياضي، طب، فارمسيـ، انجينري، همداراز تاريخ، فلسـفه، فلکيات او د شرعي علومو سربيره، د مسـلمانانو له لاسـته راوړنو دفاع وکړي او په خپراوي کې يې رغنده هڅې وکړي.

**زده کړه ييزې موخې:**

- د تمدن له رغنده عناصرو او له اسلام وړاندې له بشري تمدنونو سره بشپړه بلدتيا.
- د تمدن تشـکيلوونکي عناصر په عامه توگه او د اسـلامي تمدن عناصر په خاصـه توگه، له مسـتندو دلايلو سره په علمي او اکاډميکې لارې څرگندول او بيانول.
- په محصل کې دا وړتيا پيدا کول چې د اسلامي تمدن د جوړښت او پراختيا په زمانه کې رسول الله صلی الله عليه وسلم په بشري تمدن کې کوم بدلونونه او اصلاحات رامنځته کړل او کوم نوي اصول يې وضعه کړل.
- محصـــل د دې جوگه شي چې د اســـلامي تمدن په وده او پراختيا کې د راشـــده خلفاوو له کارنامو څخه بېلگې وړاندې کړای شي او د اسلامي تمدن د هېرو شويو وړتياوو په اړه خپله مسؤولانه وظيفه ادا کړي.
- په مدلل ډول له دې دفاع کول چې معاصر بشرـــي تمدن د اســـلام په پيل او لومړني تاريخ کې د مســـلمانانو د هڅو او کوښښونو پوروړی دی.

**درسي مېتودونه:**

لکچرونه وړاندې کول، ازاد بحث او مناقشه، د محصل محوري مېتود له مخې د درسي عنوان اړوند پوښتنو ته ځوابونه.

**د مضمون اونیز درسي پلان**

| اونۍ | موضوع | د اونۍ د درسي ساعتونو شمېر | نظري | علمي |
|---|---|---|---|---|
| **لومړۍ** | دتمدن لغوي معنا.<br>د تمدن اصطلاحي تعریف.<br>د تمدن عناصر:<br>( اعتقادات، باورونه، اخلاقیآت، سیاست، اقتصاد، علوم، فرهنګ او هنر)<br>د تمدن، مدنیت او کلتور ترمنځ اړیکې.<br>له اسلام څخه د مخکې تمدنونو لنډه ارزونه.<br>(په ځانګړې توګه منځنیو پیړیو کې د شرق، اروپا او غرب اخلاقي، سیاسي، اقتصادي او اجتماعي حالات) | 2 | 2 | ۰ |
| **دوهمه** | داسلامي تمدن رامنځته کېدل.<br>د اسلامي تمدن تعریف، تاریخ، عناصر او ډولونه یې.<br>د اسلامي تمدن له نورو تمدنونو سره توپیرونه.<br>(اتفاقي او اختلافي موارد یې) | 2 | 2 | ۰ |
| **درېیمه** | د اسلامي تمدن ځانګړتیاوې.<br>له عقیدې سره تړاو.<br>له عباداتو سره تړاو.<br>له اخلاقو سره تړاو.<br>اعتدال او توازن.<br>دیني، انساني او کلتوري ارزښتونه.<br>تعادل او تکامل. | 2 | 2 | ۰ |
| **څلورمه** | رسول الله صلی الله علیه وسلم او د اسلامي تمدن بنسټ ایښودنه.<br>-داسلامي ټولنې رامنځته کول.<br>-قوانین او تطبیق یې (ټولنیز عدالت)<br>-علم او پوهې ته هڅونه.<br>-داسلامي اقتصاد اساس ایښودل.<br>د اقتصاد ټکني کوونکو اسبابو له منځه وړل، لکه سود، غرر، قمار، احتکار وغیره.<br>-د رغنده سیاست رامنځته کول.<br>-رسول الله صلی الله علیه وسلم او طب<br>- دجګړې اخلاقي اصول او قوانین رامنځته کول. | 2 | 2 | ۰ |
| **پنځمه** | د راشده خلفاوو/ اسلامي دولت په پېر کې د تمدن پرمختګونه.<br>-د اسلامي ټولنې داستحکام په برخه کې.<br>-د سیاست او ادارې په برخه کې (د حکومتولۍ طرز – قوانین ) | 2 | 2 | ۰ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | -د اقتصاد په برخه کې.<br>-د پراختیا او بیا رغونې په برخه کې.<br>- د دفاعي او نړیوالو اړیکو په برخه کې. | | | |
| **شپږمه** | د پخوانیو مسلمانانو تمدني کارنامو ته لنډه کتنه.<br>-د علومو په برخه کې (نامتو علماوو، علمي مرکزونو لنډه یادونه)<br>-دفنونو په برخه کې ( خطاطي، نقاشي، معماري....)<br>-د صنعت او ایجاد په برخه کې (کاغذ، قطب نما، ساعت، بارود، عینک و...)<br>- دزراعت په برخه کې. | 2 | 2 | ٠ |
| **اوومه** | په اسلامي شرعي علومو کې داسلامي تمدن لاسته راوړنې (تفسیر، اصول تفسیر، حدیث، اصول حدیث فقه، اصول فقه، عقیده، علم کلام او نور..) | 2 | 2 | ٠ |
| **اتمه** | په ټولنیزو علومو کې داسلامي تمدن لاسته راوړنې.<br>(تاریخ، جغرافیه، ژبه او ادبیات) | 2 | 2 | ٠ |
| **نهمه** | درياضياتو، هندسې، او فزیک علومو په برخه کې. | 2 | 2 | ٠ |
| **لسمه** | دساینسي، تجربوي، کیمیایي او طبي علومو په برخه کې. | 2 | 2 | ٠ |
| **یوولسمه** | دفلکیاتو، فلسفې او حکمت په برخه کې. | 2 | 2 | ٠ |
| **دوولسمه** | د اسلامي تمدن مصادر او اصول:<br>- قرآن کریم.<br>- نبوي سنت.<br>- اجماع.<br>- قیاس.<br>- مصالح مرسله. | 2 | 2 | ٠ |
| **دیارلسمه** | مسلمانان د یوې متمدنې ټولنې بنسټګر.<br>-د ټولنې لپاره د انساني اصولو وضع کول. (انساني کرامت، متقابل احترام، د بیان ازادي، حقوقي مساوات او...)<br>-د فرد او ټولنې د اصلاح تصور رامنځته کول.<br>-ټولنیز خدمتونه وړاندې کول (لکه: دلویو لارو جوړول، کاروان سرایونه، روغتونونه، دارالمجانین، یتیم خانې، زندانونه، او ...) | 2 | 2 | ٠ |
| **څوارلسمه** | په اسلامي تمدن کې د افغانانو ونډه.<br>-د علومو په برخه کې.<br>- د فنونو په برخه کې. | 2 | 2 | ٠ |
| **پنځلسمه** | په معاصر نړیوال تمدني ډګر کې د مسلمانانو د وروستوالي لاملونه او حل لارې یې.<br>داخلي او بیروني لاملونه او حل لارې یې. | 2 | 2 | ٠ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| **شپاړسمه** | اروپا او لویدیځ په معاصر تمدني پرمختګ کې داسلام مرهون دي.<br>(دمسلمانانو دیادو شویو لاسته راوړنو په رڼا کې باید تحلیل شي) | 2 | 2 | ٠ |

| **مقرر کتاب او ماخذونه:** | |
|---|---|
| **مقرر کتاب** | **د لاندي ماخذونو او مراجعو په رڼا کې دې درسي مواد ترتیب شي.** |
| **د محصل او استاذ د اضافي معلوماتو او مطالعې لپاره مآخذ او مراجع** | 1. ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين، لابي الحسن على الندوى.<br>2. معالم الحضارة فى الاسلام، لناصح علوان.<br>3. من روائع حضارتنا. لمصطفى سباعى.<br>4. الحضارة الإسلامية مقارنة بالحضارة الغربية، لتوفيق يوسف الواعي |